# درسول الله صلى الله عليه وسلم مختصر

# سيرت او صفات

ليكونكي:

هيثم بن محمَّد سرحان

دمسجدي النبوي د معهد -پخواني استاد-

او د تاصيل العلمي ويب پاڼي مشرف

ترجمه:

عبدالرحيم عبدالواحد الصافي

http://attasseel-alelmi.com

غفر الله له ولوالديه ولمن أعانه على إخراج هذا الكتاب

اولنۍ طبعه

ټول حقوق محفوظ دي

مګر هغه چاته که څوک دچاپ کولو او ترجمه کولو

او دمفت توزيع کولو اراده ولري د مولف د موافقي نه بعد

الرَّجاء التَّواصل على:

**islamtorrent@gmail.com**

فسح وزارة الإعلام

# مُقدِّمَة

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الحمدَ لله نحمدُه ونستعينُه ونستغفرُه، ونعوذُ بالله من شُرور أنفسِنا ومن سيِّئات أعمالنا، من يهدِهِ اللهُ فلا مُضلَّ له، ومن يُضللْ فلا هاديَ له، وأشهد أن لا إله إلَّا اللهُ وحده لا شريك له، وأشهد أنَّ محمَّدًا عبده ورسوله ﷺ، ﴿يا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴾[آل عمران]، ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ ۚ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا ﴾[النِّساء]، ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا * يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا﴾[الأحزاب].

وبعد: دا يو ځو كلمات دي چه ددي ديپژندلو نه خلاصي نشته دهغه چا لپاره چه د خپل پيغمبر سيرت او اخلاق ديپژندلو اراده لري،ابن القيم رحمه الله فرمايي: كله چه دبنده خوشبختي درسول الله ﷺ سيرت پوري ترلي ده،نو هر هغه ځوک چه د خپل نفس نجات غواړي ورباندي لازم دي چه دپيغمبر ﷺ سيرت او اخلاق او زندګی نه ځان خبر كړي،دكوم په وجه چه هغه د خپل پيغمبر دسيرت نه د ناخبرى نه اوباسي،او درسول الله ﷺ په اتباعو كي يي شاملوي،او ددي متعلق كي دخلكو حال دادي چه ځوک مستقل دي، ځوک ډير خبردي دسيرت نه او ځوک ورنه محروم دي،او فضل او خير د الله تعالى په لاس كي دي چاته يي خوښه شي وركوي، او الله تعالى دلوي فضل خاوند دي).

الله تعالى دي ماله او تاسو له درسول الله ﷺ محبت او د هغه په هغه څه چه يي حكم كړي دي اطاعت او د هغه څه نه چه يي منع كړي يو لري والي او اجتناب په نصيب كړي، اللَّهمَّ صلِّ على محمَّدٍ وعلى آل محمَّدٍ كما صلَّيت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، وبارك على محمَّدٍ وعلى آل محمَّدٍ كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنَّك حميدٌ مجيدٌ، والحمد لله ربِّ العالمين.

# اوله برخه: درسول الله ﷺ صفات او زندګي

# درسول الله ﷺ صفات

## نسب

مُحمَّد بنُ عبدالله بن عبدالمُطَّلب بن هاشم بن عبدمناف بن قُصَيِّ بن كلاب بن مُرَّة بن كعب بن لُؤيِّ بن غالب بن فِهر بن مالك بن النَّضر بن كِنانة بن خُزيمة بن مُدرِكة بن إلياس بن مُضَر بن نزار بن مَعَدِّ بن عدنان، وعدنان من ولد إسماعيل الذَّبيح بن إبراهيم الخليل علهما السلام.

رسول الله صلى اله عليه وسلم دزمكي په مخ باندي مطلقا د بهترين نسب والا انسان دي،په حديث كي دي چه د روم بادشاه هرقل ابوسفيان ته وايي چه ما تا نه دهغه دنسب باره كي تپوس وكړو نو تا اوييل چه هغه مونږ كي د بهترين نسب خاوند دي نو بيشكه انبياء د خپل قوم د بهترين نسب نه ليږل كيږي.

## اختيارول

رسول الله ﷺ فرمايي: (الله تعالى د اسماعيل عليه السلام داولاد نه كنانة اختيار كړي دي او د كنانه نه يي قريش اختيار كړل،او د قريشونه يي بنى هاشم او زه يي د بني هاشم نه اختيار كړم).

## نومونه

درسول الله ﷺ ټول نومونه صفتي دي صرف د تعريف لپاره نه دي بلكه دهغه صفاتو نه مشتق دي كوم چه په هغه كي وو، او دكوم لپاره چه حمد او كمال بيانول واجب دي.ځيني نومونه يي دادي:

### محمَّد

او دا د رسول الله ﷺ د مشهورو نومونو نه دي،او په دي نوم باندي تورات كي ياد شوي دي.او معنى يي :(د هغه ډير خصلتونو والا كوم چه يي وربانديي صفت كيږي)

### أحمد

دالله په وړاندي په مخلوقاتو کی دډير حمد او ثنا والا،چه د زمكي او اسمانونو او ددنيا او د اخرت خلك يي حمد بيانوي، دډيرو خصلتونو دوجي نه،او دي نوم باندي عيسى عليه السلام يادكړي دي.

### المُتوكِّل

متوكل ورته ځكه وايي چه ددين په قائمولو كي يي په الله باندي داسي توكل كړي وو چه هيڅ څوك يي پكي نه وو شريک كړي.

| درسول الله ﷺ نومونه | | |
|---|---|---|
| | الماحي | يعني الله تعالى وربانـدي كفر محو كوي ختموي يي، او څومره كفر چه رسـول الله ﷺ ختم كړي دي بل څانه دي ختم كړي. |
| | الحاشر | خلك به دده نه وروسته د حشر ميدان ته ټوليږي ګويا كه دخلكو د راټولو لپاره ليږل شـوي وي. |
| | العاقب | دده نه وروسته بل نبي نشته، خاتم النبيين دي. |
| | المُقفِّي | تير شـوي رسـولانو په لاره تللي اتباع كونكي. |
| | نبيُّ التوبة | الله تعالى دده په وجه دزمكي خلكو لپاره دتوبي دورازه كولاو كړه، او داسي توبه يي په خلكـو وكـړه چـه مخكي چـا نـه وه كـړي،او رسـول الله ﷺ ډيـر اسـتغفار اوتـوبي والا انسان وو. |
| | نبيُّ الملحمة | الله تعالى د الله ددشـمنانو سـره د جهـاد لپاره راليږلي وو، دده او دامت پـه رنګـه جهاد مخكي كوم نبي او امت يي نه دي كړي،او كوم جنګونه د جهاد چه واقع شـوي دي مخكي زمانه كي داسي نه دي واقع شـوي. |
| | نبيُّ الرَّحمة | الله تعالى رحمة للعالمين ليږلي دي،دزمكي ټولـو خلكـو بانـدي يي رحم وكړو.مؤمنانو تـه خپلـه حصـه د رحم خو ورسـيدله، ليكن كافرو اهل كتابو هم د هغه د رحم او د عهد او امان په سـوري كي ژندګي تيره كړه، |
| | الفاتح | الله تعالى وربانـدي دهـدايت لاري كولاو كړي،ړنـدي سـترګي بنـد غوږونه او بند ژړونه وربانـدي الله تعالى كولاو كړل،دجنت دروازي وربانـدي الله كولاو كړي، او د علم نافع او د عمل صـالح لاري وربانـدي الله تعالى كولاو كړي.. |

| | | |
|---|---|---|
| نومونه | الأمين | په ټول عالم کي هغه ددې نوم ډیر حقدار دي،ځکه دالله د طرف نه دالله په وحي او دین کي امانت کر دي،په زمکه کي او اسمانونو کي امین دي،بلکه قریشو کفارو ورلـه د نبوت نه مخکی د امین لقب وکړي وو. |
| | البشير | چه څوک یي اطاعت وکړي د ثواب زیري ورکونکی دي او څوک چه یي معصیت او نافرماني وکړي نو د عذاب نه یره ورکونکي دي. |
| | سيّد ولد آدم | رسول الله ﷺ فرمایي: (دقیامت په ورځ زه د ټولو (بني آدم) سید (سردار) یم او په دي فخر نه کوم) |
| | السّراج المنير | رڼا کوي بغیر د سوزولو نه په خلاف د هغه شمع چه رڼا کوي خو لږ لږ سوځول هم کوي. |
| | | د الله تعالی بنده دي،او د هغه بندګي د الله لپاره په خاصو کي خاص ده، ځکه هغه د عبودیت ټولي مرتبي په کامله طریقه پوره کړی دی. |
| درسول الله ﷺ مختصر صفات | | خپل کامل صفت یي بیان کړی دي فرمایي: زه محمد دالله بنده او دالله رسول یم،او دا نه خوښوم چه الله کوم مقام راکړي دي د هغه نه څوک اوچت مقام راکړي. |
| | | رسول الله ﷺ د بهترین او ښایسته خلقت او اخلاقو خاوند وو،الله تعالی د هغه باره کي فرمایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾[القلم]،او عائشة ﵂ فرمایي چه د رسول الله ﷺ اخلاق قران وو، یعني عمل یي وربانـدي کولو،او دقران حدودو سره به ودریدلو، او د خلکو سره یي خوشحالي او خفګان هم ددی قران لپاره او دقران په وجه وو. |
| | خليل الله | رسول الله ﷺ فرمایي: (زه الله تعالی داسي خپل دوست ګرځولي یم لکه څنګه چه یي ابراهیم علیه السلام خپل خلیل او دوست ګرځولي وو. |
| درسول الله صلی الله وسلم پیدائشي صفات | جسد مبارك | انس ﵁ فرمایي چه : رسول الله ﷺ دسپین واضح رنګ خاوند وو، سپین والي کي لکه مرغلرو په رنګه وو،او ما کله هم درسول الله ﷺ دلاس نه نرم ریښم نه دي لیدلي،او نه مي درسول الله ﷺ دخوشبویي نه دعنبر او مشکو خوشبویي بهتره لیدلي ده. |

## درسول الله صلى الله وسلم پيدائشي صفات

| | |
|---|---|
| قامت | براء بن عازب ﷺ فرمايي چه درسول الله ﷺ درميانه متوسط قامت وو.او ددواړو اوږو منځ كي لري والي (پراخي)وه،دسر ويښته يي دغوږونو نرميو پوري وو،ما درسول الله ﷺ نه بل ښه او ښايسته څوک نه دي ليدلي. |
| درسول الله ﷺ مخ مبارک | كعب بن مالک ﷺ فرمايي: كله چه مي رسول الله ﷺ باندي سلام وكړو. د هغه مخ د خوشحالۍ نه پرقيدلو، او رسول الله ﷺ چه به كله خوشحاله وو نو مخ به يي د سپوږمۍ په رنګه رڼا كوله، ،او دبراء ﷺ نه تپوس وشو چه ايا درسول الله ﷺ مخ دتوري په رنګه وو؟ هغه وفرماييل چه نه بلكه درسول الله ﷺ مخ د سپوږمۍ په رنګه وو. |
| ويښته | انس ﷺ فرمايي: رسول الله ﷺ ددرنو لاسونو خاوند وو، دهغه په رنګه دهغه نه بعد ما څوک نه دي ليدلي،او درسول الله ﷺ ويښته تاو شوي نه وو، |
| سترګي | جابر ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ خوله مباركه پراخه (غټه) وه، او سترګو كي يي سوروالي او سپينوالي وو، |
| خوله(عرق) | انس بن مالک ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ راغي او اوده شو د قيلولي لپاره. نو دي حالت كي خوله شو زما مور راله او ورسره بوتل وو او درسول الله ﷺ دبدن نه يي خوله راټولوله او بوتل كي يي اچوله، دي وخت كي رسول الله ﷺ راويښ شونو ورته يي وفرماييل اي ام سليم دا څه كوي؟ نو هغي ورته اوييل دا ستا خوله ده او دا مونږ په خوشبويي كي اچوو ځكه دا دټولو نه بهترينه او ښه خوشبويي ده. |
| دنبوت مهر (ټپه) | درسول الله ﷺ داوږو منځ كي مهر وو،او دا يوه ښكاره نښه وه درسول الله ﷺ په بدن كي. جابر بن سمرة ﷺ فرمايي: درسول الله ﷺ اوږي سره مي مهر وليدلو چه د مرغۍ د انډې په رنګه وه او د هغه د جسم سره مشابه وه. |

## درسول الله ﷺ اخلاق صفات

| | |
|---|---|
| دملګرو (صحابو) ئې د هغه عزت او اجلال کول | عمروبن العاص ﷺ فرمايي: درسول الله ﷺ نه علاوه ماته بل هيڅ څوک محبوب نه وو،او نه مي سترګو کي دهغه نه علاوه بل څوک عزتمند وو،ما نه شو کولي چه سترګي د هغه په ديدن مړي کړم،يا د هغه په مخکي سترګي اوچتي کړم، د هغه د ډير عزت دوجي نه،او که مانه دا تپوس وکړي شي چه درسول الله ﷺ صفت وکړم نو نه يي شم کولي ،ځکه چه سترګي مي د هغه په ليدلو نه مړيدلي، هغه ته مي په کولاو نظر نه شو کتلي د هغه د اجلال او احترام دوجي نه.<br>عروة بن مسعود الثقفي دحديبية په ورځ قريشو ته درسول الله ﷺ صفت بيانوي ورته وايي:په الله قسم ما کوم بادشاه نه دي ليدلي چه ملګري يي دومره عظمت او عزت کوي لکه څنګه چه د محمد ملګري د محمد ﷺ عظمت او عزت کوي،په الله قسم چه د خولي نه يي لاړي نه وي غورزيدلي مګر ديو په لاس کي وي،او خپل مخ باندي يي راښکاريي،او که امر يي ورته وکړو امر يي مني او که اودس کوي نو د اودس اوبو باندي نژدي ده چه يو بل قتل کړي،او چه کله خبري کوي نو ټول خپل اوازونه خاموش کړي، او د هغه د تعظيم دوجي نه هغه سره سترګي نه ميلاوی. |
| دالله سره يي ادب | عبدالله بن الشخير ﷺ وايي : ( نو مونږ رسول الله ﷺ ته اويل چه ته زمونږ سيد يي،نو رسول الله ﷺ وفرمايل چه سيد الله تبارک وتعالی دي |
| بهادري | علي ﷺ فرمايي : کله چه به دجنګ ميدان ګرم شو او يو قوم به د بل قوم سره مخامخ شو نو مونږ به درسول الله خوا ته ځان ورسولو،نو مونږ کي به قوم ته درسول الله ﷺ نه ډير څوک نژدي نه وو. |
| خشيت | رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي: هر چه زه يم په الله قسم تاسو کي دټولو نه ډير د الله نه يريدونکي او تقوی دار يم |
| دخپل اهل سره يي احسان کول | رسول الله ﷺ فرمايي: تاسو کي بهترين هغه څوک دي چه څوک د خپل اهل سره ښه وي،او زه په تاسو کي د خپل اهل سره دنيکی کولو والا يم. |
| حياء | ابو سعيد الخدري ﷺ فرمايي: رسول الله ﷺ د هغه پيغلي نه چه په کور کي ناسته وي د هغي نه هم ډير زيات حياناک وو،کله چه به يي يو کار خوښ نه شو نو مونږ ته به د هغه د مخ نه اندازه لګيدله. |
| اساني خوښول | عائشة ﷺ فرمايي: رسول الله ﷺ ته به چه دوه کارونو منځ کي اختيار ورکړي شو نو اسان کار به يي پکي خوښولو که ګناه به پکي نه وه اوکه ګناه به پکي وه نو ځان به يي ورنه ساتلو. |

## درسول الله ﷺ اخلاقي صفات

| | |
|---|---|
| دخپل ځان لپاره يې انتقام نه اخستلو | عائشة ﵂ فرمايي: په الله قسم كله يي هم د خپل ځان لپاره چانه انتقام نه دي اخستلي، مګر چه كله به دالله حدود پيمال شول نو دالله لپاره به يې بيا انتقام اخستلو. |
| خوراک کې به يې عيب نه راويستلو | عائشة ﵂ فرمايي: رسول الله ﷺ كله هم روټۍ كې عيب نه دي راويستلي،چه كله به يې اشتها وه خوړله به يې او چه كله به يې خوښه نه وه پرېښودله به يې. |
| هديه (تحفه)به يې قبلوله | عائشة ﵂ فرمايي: رسول الله ﷺ به هديه(تحفه) قبلوله، او بدله به يې هم وركوله. |
| صدقه به يې نه خوړله | رسول الله ﷺ فرمايي: بيشكه آل محمد صدقه نه خوري. |
| تواضع | عقبة بن عامر ﵁ فرمايي :رسول الله ﷺ له يو سړي رالو خبري يي ورسره وكړي نو هغه درعب دوجي نه لړزيدلو نو رسول الله ﷺ ورته وفرماييل:مه يريږه په ارام شه زه څه بادشاه نه يم بلكه زه دداسي ښځي زوي يم چه وچه شوي غوښه به يي خوړله. |
| دخپل اهل خدمت كول | اسود بن يزيد ﵁ فرمايي چه ما د عائشة ﵂ نه تپوس وكړو چه رسول الله ﷺ به كور كي څه كول؟ نو هغي وفرماييل چه د خپل كور(اهل) په خدمت كي به وو چه كله به د لمونځ وخت رالو نو لمونځ ته به اوتلو. |
| دجاهلانو نه مخ اړول | رسول الله ﷺ فرمايي: ايا تاسو تعجب نه كوي چه الله تعالى څنګه دقريشو كنذلي او لعن مانه بل طرف ته كرځوي؟ مذمم باندي لعنت وايي او مذمم ته كنذلي كوي او زه محمد يم. (كفارو به دډير حسد نه محمد نه ويلي بلكه ددي عكس مذمم به يي ويلي) |
| صداقت | عبدالله بن مسعود ﵁ فرمايي چه رسول الله ﷺ مونږ له خبر راكړي وو چه هغه صادق او مصدوق دي. |
| دخادم(خدمتګار) سره اخلاق | انس ﵁ فرمايي چه ما درسول الله ﷺ لس كاله خدمت كړي دي،په الله قسم ماته يي افف قدري هم نه دي كړي،او نه يې راته دا ويلي چه دا فلاني كار دي ولي كړي دي، او نه يي چه كوم كار مي نه وي كړي دا ويلى چه ولي دي نه دي كړي. |

## درسول الله ﷺ اخلاق صفات

| | |
|---|---|
| دصحابه سره يې فرق نه وو او پراخه سيني والا وو | انس بن مالك ﷺ فرمايي چه مونږ مسجد كي ناست وو يو سړي په اوښه باندي مسجد ته رالو او اوښه يې ودروله او بيا يې اويبل تاسو كي محمد څوك دي؟او رسول الله ﷺ دخلكو منځ كي ناست وو تكيه يې وهلي وه،نو مونږ ورته اويبل دغه سپين سړي چه تكيه يې وهلي ده محمد دي،نو ورته وايي اي د عبدالمطلب زويه! رسول الله ﷺ ورته وايي چه وايه! ورته وايي اي محمده زه تانه يو تپوس كوم او په سختۍ سره يې كوم زړه كي د څه رانه ولي،رسول الله ﷺ ورته اويبل، وايه چه څه دي خوښه وي تپوس وكه،ورته وايي ستا درب او دمخكي تيرشوي خلكو درب په واسطه درنه تپوس كوم ايا ته الله ټولو خلكو ته رسول راليږلي يې؟ رسول الله ورته فرمايي چه هو ! بيا ورته وايي دالله په نوم درنه تپوس كوم چه ايا الله تاته دا حكم كړي دي چه مونږ په شپه او ورځ كي پنځه وخته لمونځ وكړو؟ رسول الله ورته فرمايي چه هو !بيا ورته فرمايي دالله په نوم درنه تپوس كوم چه ايا الله تاته دا حكم كړي دي چه مونږ به كال كي دا يوه مياشت روژه نيسو؟ رسول الله ﷺ ورته فرمايي هو! دالله په نوم درنه تپوس كوم چه ايا الله تاته دا حكم كړي دي چه دمالدارو نه صدقه واخلي او فقيرانو باندي يې تقسيم كړي؟ رسول الله ﷺ ورته فرمايي هو! نو سړي اويبل چه څه چه تا د خپل رب طرف نه راوړي دي ما وربانـدي ايمان راوړي دي، او زه د خپل قوم لـه طرف نه راليږل شوي يم،او زه دبني سعد دابن بكر ورور ضمام بن ثعلبة يم. |
| روڼې | عائشة ﷺ فرمايي: آل محمد كله هم دوه ورځي پرله پسي د وربشو په روټۍ موړ شوي نه دي تردي چه درسول الله ﷺ روح قبض شو. (يعني د روټۍ د كموالي دوجي نه) |
| دنيا كې يې بې رغبتي | رسول الله ﷺ فرمايي زما دا نه ده خوښه چه د أحد دغره په اندازه سره زر راسره وي، او دري ورځي وربانـدی تيري شي او ماسره دهغي نه دينار پاتي وي مګر هغه چه كوم مي دقرضداري لپاره ساتلي وي. |
| كنځلې يې نه كولې | عائشة ﷺ فرمايي : رسول الله ﷺ نه فاحش وو (خبرو كي ) او متفحش وو، او نه په خلكو اواز اوچتونكي وو(دبداخلاقۍ دوجي نه ) ليكن عفو او صفح يې كوله،بخښنه يې كوله. |
| كله يې هم د ښځې لاس سره لاس نه دی لږيدلی | عائشة ﷺ فرمايي: درسول الله ﷺ لاس كله هم د كومي پردی ښځي سره نه دي لګيدلی. |

عمر ﷺ فرمايي زه په رسول الله ﷺ وردننه شوم او او هغه د پوزكي فرش چه د كجورو پاڼو نه جوړ شوي وو، ډېره وهلي وه (ستركي يي پټي وي)نو څادر يي په ځان نژدي كړو نو ما وليدلو چه دكجورو پټ يي بدن باندي نشانونه جوړ كړي وي،په ستركو كي مي هغه لوښي ته نظر وكړو چه پكي صرف يو موتي وربشي دخوراک لپاره پرتي وي،چه كله راپاڅيدلو ،زما ستركي د اوښكو نه ډكي وي نو ما نه يي تپوس وكړو اي د خطاب زويه څه شي دي ژړوي؟ما ورته اويلي اي د الله نبي !څنګه به نه ژاړم او د كجورو پټ ستا په بدن باندي نښي جوړي كړي دي،او دي لوښي كي ګورم چه د يوموتي وربشو نه علاوه پكي څه نشته، او قيصر او كسرى په ميوو او نهرونو كي زندګي تيري،او حال دا چه ته دالله رسول او بهترين خاص بنده يي او دا ستا د خوراک حال دا دي چه څه هم نشته. نو ما ته اوويل اي د خطاب زويه:ايا ستا نه ده خوښه چه زمونږ لپاره دي د اخرت وي او د هغوی لپاره دنيا وي؟ ماورته اويل ولي نه.

# الاختبار الأوَّل

| سؤال: | صيح | خطأ |
|---|---|---|
| دبنده خوشبختي درسول الله ﷺ په اتباع کې ده. | ☐ | ☐ |
| رسولان دخپل قوم د نسب نه لېرل کېږي. | ☐ | ☐ |
| کامل صفت درسول الله ﷺ هغه دي کوم چه يي خپله کړي دي چه زه (محمد دالله بنده او رسول يم.) | ☐ | ☐ |
| رېښتيا او ورى درسول الله ﷺ د لاس نه نرم دي. | ☐ | ☐ |
| الله تعالى نبي ﷺ كې كامل اخلاق او نيک خويونه راجمع كړي وو، او علم فضل او په هغه څه کې چه ددنيا او اخرت نجات او کاميابي ده ورکړي وو چه مخکې يي چالـه نـه وو ورکړي. | ☐ | ☐ |

- دځمکي په مخ مطلقا دبهترين نسب والا ☐ يونس بن متَّى ﷺ ☐ محمَّد بن عبد الله ﷺ
- درسول الله ﷺ نومونه: ☐ صفتي دي ☐ تعريفي دي ☐ دهغه صفاتو نه مشتق دي کوم له چه مدح او کمال لازم دي. ☐ داتول ☐ اول او دريم
- درسول الله ﷺ اخلاق قران وو يعني: ☐ دقران لپاره به خوشحاليدلو ☐ او د قران لپاره به خفه کيدلو. ☐ دا تول
- دالله دوست خليل الله څوک دي؟: ☐ إبراهيم عليه السلام ☐ محمَّدٌ ﷺ ☐ دواړه
- درسول الله ﷺ رنګ : ☐ غنم رنګي ☐ سپين ☐ دير سپين وو
- بهترينه خوشبويي: ☐ مسك ☐ درسول الله ﷺ خوله (عرق)

| الله تعالى اختيار کړي دي : | کنانة | دبني هاشم نه | إسماعيل | دقريشونه |
|---|---|---|---|---|
| کنانه د اولاد د | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| قريش د: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| بني هاشم: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| | | | | ☐ |
| او نبي ﷺ د: | ☐ | ☐ | ☐ | |

| درسول الله صلى الله عليه وسلم نسب: | نوم | دپلارنوم | دنيکه نوم | دنيکه پلار | داولني نيکه نه مخکي | اولني نيکه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| هاشم: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| عبد المُطَّلب: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| عبد الله: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| محمَّد: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| إسماعيل: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| إبراهيم: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| نوم دمعنى (شرح)سره وصل کړی: | محمَّد | أحمد | العاقب | السِّراج |
|---|---|---|---|---|
| د رب په وراندي په ټولو خلکو کي حمد والا: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| چه بغير دسوزولو رڼا کوي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دهغه خصلتونووالا چه صفت يي ورباندي کيږي | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دهغي نه بعد نبي نشته خاتم النبيين دي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| رسول الله ﷺ وو: | لاسونووالا | خوشبو والا | زندګی والا | اخلاق او صورت | خشيت والا |
|---|---|---|---|---|---|
| په خلکو کي د ښايسته: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او نرم : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| ښايسته : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دټولونه ښه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او سخت: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| رسول الله ﷺ: | دالله لپاره | روټی کي | دخپل ځان لپاره | صَّدقة | هديَّة |
|---|---|---|---|---|---|
| انتقام به يي نه اخستلو مګر: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او انتقام به اخستلو صرف : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| عيب به يي نه راويستلو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| قبلوله به يي او بدله يي هم پري ورکوله: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| نه يي قبلوله: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

## درسول الله ﷺ تعلیمات

| درسول الله ﷺ په لباس خوراک څښاک کې تعلیمات | | |
|---|---|---|
| | محبوب رنګ | رسول الله ﷺ ته خوښ رنګ سپین رنګ وو فرمایي: دا ستاسو بهترین لباس دي، خپله یې هم واچوئ او مړو ته کفن هم ددې نه ورکړئ. |
| | لباس | هرلباس چه میسر وو،کله د وړی کله کاتن کله کتان، او کله چه به یې قمیص اچولو نو د ښي طرف نه به یې شروع وکړه. |
| | په لباس کې میانه روي (اعتدال) | ځیني سلف فرمایي: هغوی به دشهرت لباس بد ګڼلو که ډیر به وو او که لږ) دابن عمر ﷺ حدیث کې دي فرمایي: چاچه دشهرت لباس واچولو دقیامت په ورځ به الله تعالی ورته د ذلت لباس واچوي او اور به پکې بل شي)ځکه چه د فخر او تکبر اراده یې وه نو الله تعالی ورله دا سزا ورکوي، او دابن عمر ﷺ روایت کې دي رسول الله ﷺ فرمایي: چاچه خپلې کپړې راښکلې د تکبر دوجې نه الله به ورته دقیامت په ورځ نه ګوري. |
| | خوراک | موجود شي به یې نه رد کولو او کوم چه به نه وو هغې پسې به یې خلکو له تکلیف نه ورکولو،کوم چه پاک حلال خوراک ورته مخکې کړي شو هغه به یې خوړلو،او که زړه به یې یو شي نه منلو نو پرېښودلو به یې بغیر د تحریم نه،عائشة ﷺ فرمایي کله یې هم په طعام کې عیب نه دي رایستلي،که زړه به یې و خوړله به یې،او که نه پرېښودلو به یې . |
| | دخوراک طریقه | - اکثر خوراک یې په دسترخوان باندې وو چه په زمکه به کېښودل کیدلو.<br>- په درې ګوتو باندې به یې خوراک کولو.<br>- کله چه به یې تکیه وهلې وه خوراک به یې نه کولو.<br>- دخوراک په شروع کې به یې بسم الله ویېله او اخر کې به یې الحمدلله ویېله.<br>- کله چه به دخوراک نه فارغ شو خپلې ګوتې به یې څټلې. |
| | څښاک | - هروخت به یې په ناسته باندې اوبه څکلې، بلکه په ولاړه د اوبو څکلو نه به یې منع کوله او دضرورت(عذر) په وخت کې په ولاړه باندې اوبه څکل جائز دي. |

## په نکاح او معاشرت کې درسول الله ﷺ تعلیمات

- رسـول الله ﷺ فرمايي: ستاسـو ددنيا نه ماته دوه شيان محبوب گرځول شـوي دي : ښـځې او خوشبويي، او زما د سترګو يخوالي  په لمونځ کې ګرځول شوي دي.
- او د ښځو په منځ کې به يې شپه تيرولوکي او نفقه کې انصاف کولو.
- عائشه ؓ فرمايي : کله چه به سفر باندې تللو نو د بيبيانو په منځ کې به يې قرعه اندازي کوله چه د چا نوم به راوتلو نو هغه به يې ځان سره بوتلله.
- او د بيبيانو سره يې ښايسته اخلاق او ښه زندګي تيروله.
- دعائشة ؓ په غيږ کې به يې تکيه وهلې وه او قران به يې ويلو،که  هغه به د حيض حالت کې هم وه.
- دحيض په حالت کې به يې ورته حکم وکړو ازار به يې وتړلو او مباشرت به يې کولو.
- عائشة ؓ به يې ښکلوله او هغه به روژه وه.
- دنرم او ښايسته اخلاقو نمونه يې داهم ده چه دخپل اهل سره به يې لوبي هم کولې،او د سفر په وخت کې به يو بل نه مخکې کيدل،همدارنګه د کور نه دوتلو وخت کې به يې يو بل له کله کله  ديکې هم ورکولې.
- کله چه به دشپې د سفر نه رالو نو خپل اهل به يې نه راپاخولو.

## درسول الله ﷺ خوب او د خوب نه پاڅيدل

- کله چه به د خوب لپاره بسترې ته لاړو نو دا دعاء به يې ويله: «**بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَحْيَا وَأَمُوتُ**»، کله چه به دشپې خپل بسترې ته لاړو د خوب لپاه نو  خپل لاسونه به يې راټول کړل او پوکي به يې پکي وکړو او دا سورتونه به يې اوبيل: ﴿ قُلْ هو اللَّهُ أحَدٌ ﴾ وَ﴿ قُلْ أعُوذُ برَبِّ الفَلَقِ ﴾ وَ﴿ قُلْ أعُوذُ برَبِّ النَّاسِ ﴾،بيابه يې خپل بدن وربانـدى مسح کړو ،سر مخ او بدن چه څومره به يې کولې شـو، او دا به يې درې ځل تکرارولو. او کله چه به څملاستلو  نو ښي لاس به يې د مخ لاندې کيښودلو او دا دعاء به يې  درې ځل ويله: اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ »،کله چه به د خوب نه پاخيدلو نو دا دعاءبه يې و ييله:  «**الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ**»،بيا به يې مسواک کولو.
- دشپې اوله حصه کې به اوده کيدلو او دشپې اخري حصه کې به راپاخيدلو، او کله کله به يې دشپې اوله حصه کې دمسلمانانو د خدمت لپاره خوب نه کولو.
- درسول الله ﷺ سترګې به يې اوده کيدلې خو زړه به يې ويښ وو.
- چه اوده به شو نو چابه نه راپاخولو ترديي چه خپله به راپاخيدلو.
- خوب يې مساوي برابر خوب وو،او دا دتولو نه بهترين فايده مند خوب وي.

**معاملات**

- تړوقي (ګپ شپ) به يې لګولو او په ګپ شپ کې يې هم د حق وينا کوله.
- توريه به يې کوله او په توريه کې به يې هم حق ويلې.
- مشوره به يې کوله او مشوره به يې ورکوله.
- دمريض پوښتنه به يې کوله،جنازې ته به حاضريدلو،دعوت به يې قبلولو،دکونډو مسکينانو اوکمزورو خلکو حاجتونه به يې پوره کول.
- صفتي شعرونه به يې اوريدل او انعام به يې هم ورکولو، او کومه مدحه چه دهغه شوي ده دا ډيره لږه ده،خوحقيقي ده او د نورو خلکو صفتونو کې اکثره دروغ وي.
- په خپل لاس يې پيزار ته پيوند اچولې دې،کپړو ته يې پيوند اچولې دې،داوبو بوکې ته يې پيوند اچولې دې،د خپل ځان او د اهل خدمت به يې کولو، ترډې چه د مسجد جوړولو کې يې خپله ښختې اوچتولې.
- دولړې د وجې نه به يې خپلې خيټې پسې کاڼې تړل، او کله به موړ هم وو.
- خلکو له به يې هم ميلمستيا کوله او خلکو به هم ورله ميلمستيا کوله.
- دسر په منځ کې او دښپو لاندې دقدمونو لاندې ،او اوږو کې يې حجامه کړې ده،(ښکر لګول).
- علاج يې کړې دې ،دم يې اچولې دې،او مريض چه د څه نه ورته تکليف وي د بچ کولو کوشش يې کړې دې.
- دخلکو سره ښايسته معاملې والا وو،کله چه به يې چانه قرض واخستلونو هغه به يې په ډيره ښه طريقه واپس کولو.

**تلل(مزل کول)**

تيز ښايسته او د سکون مزل يې کولو.

خپلو ملګرو کې دتيز تللو والا وو،هغوئ به يو ځاى کيدلو کې ورسره جهد(مشقت) کولو.

کله به يې دبغير چپلو مزل هم کول او کله به يې چپلو (نعل) سره مزل کولو.

صحابه رضوان الله عليهم به ورنه مخکې روان وو، او دا به يې روسته وو.

دملګرو سره به يواځې او ډله کې روان وو.

**ذکر اذکار**

دالله به يې کامل پوره ذکر کولو،بلکه خبرو کې به يې ټول دالله ذکر وو،کله چه به د خوب نه پاځيدلو دالله ذکربه يې کولو،کله چه به يې لمونځ شروع کولو،دکورنه دوتلواو دننه کيدلو وخت کې،مسجد ته د دننه کيدلووخت کې، سهار ماښام کې،دکپړو اچولووخت کې،بيت الخلاء ته دتللو وخت کې،داودس نه مخکې او وروسته،داذان اوريدلو وخت کې،دمياشتې ليدلو وخت کې،دروټې نه مخکې او وروسته،او د انتريشې په وخت کې. او داسې نور....

| | | |
|---|---|---|
| فطري سنتونه | سنت کارونه | رسول الله ﷺ فرمايي: لس شيان د فطرت نه دي:دبريتونو لنډول،ږيره پريښودل،مسواک وهل،پوزي ته اوبه اچول،نوکان کټ کول، او د ګوتو په شا باندي د غوټو وينځل،او د تخرګونو خريل.د نامه د لاندي ويښتو خريل،او اوبو باندي استنجاء کول،او راوي وايي چه لسم سنت ورنه هير شوي دي. |
| | ښي طرفنه شروع کول | په چپلو اچولو کي ګرځيدلو کي پاکوالي کي، اخستلو او ورکولو کي يي ښي طرف باندي شروع کول خوښ وو،ښي لاس به يي د خوراک څښاک او پاکوالي لپاره وو،او ګس (چپ)لاس به يي دبيت الخلاء او د ناپاکه شيانو اخوا کولو لپاره وو. |
| | سرخريل | سر خريلو کي يي دا طريقه وه چه يا به يي ټول پريښودلو يا به يي ټول اخستلو. |
| | مسواک کول | مسواک يي خوښ وو، دروژي او دغير روژي حالت کي به يي مسواک وهلو،دخوب نه راپاڅيدلو ،داودس او د لمونځ ،کورته دننه کيدلو،وخت کي به يي مسواک وهلو.او مسواک به يي د ارک دلرګي وو. |
| | خوشبويي | خوشبويي يي خوښه وه، او ډيره به يي لګوله. |
| | ږيره او بريت | رسول الله ﷺ فرمايي: دمشرکينو مخالفت وکړئ ږيره پرېږدئ اوبريتونه لنډ کړئ. |
| | دويښتو وخت | انس ؓ فرمايي چه رسول الله ﷺ مونږ ته دبريتونو او نوکانو کټ کول لپاره څلويښت ورځي محدود کړي وي چه د څلويښت ورځو او شپو نه به يي ډير نه ساتو. |
| د رسول الله ﷺ د خبرو طريقه | خبري | - عائشة ؓ فرمايي چه رسول الله ﷺ به ستاسو په رنګه خبري نه کولي بلکه په ارام سره به يي خبري کولي چه څوک به ورته ناست وو يادولي به يي.<br>- اکثره چه به يي خبري کولي نو دري ځل به يي تکرارولي،چه اوريدونکي پوهه شي،او کله چه به يي سلام کولو دري ځل به يي کولو.<br>- بغير حاجته به يي خبري نه کولي،او د حکمت نه ډکي خبري به يي کولي.<br>- هغه خبري به يي کولي چه کومو کي به يي د اجر اميد ساتلو.<br>- نه په خبرو کي نه په عمل کي فاحشه وو،او نه يي په خلکو اواز اوچتولو . |

| | | |
|---|---|---|
| خبرې،خندا،ژړا او خطبه | خندا | خندا يي تبسم کول وو،ډيره خندا يي صرف غاښونه ښکاره کيدل وو. |
| | ژړا | - په اوچت اواز يي نه ژړل،لکن سترګو نه به يي اوښکي تللي،او دسيني اواز به يي اوريدل کيدلو ژړا کي.<br>- ژړابه يي کله په مړي باندي درحم دوجې نه وه، کله په امت باندي د خوف او شفقت دوجې نه،او کله به دقران داوريدلو دوجې نه وه . |
| | خطبه | - په زمکه،منبر،سوارلى،او اوښه باندي يي خطبه کړي ده.<br>- جابر ﷺ فرمايي رسول الله ﷺ چه به کله خطبه کوله نو سترګي به يي سري شوي،اواز به يي اوچت شو،او غضب به يي ډير شو لکه ديو لشکر نه چه خبرداري (يره)ورکوي.<br>- تولي خطبي به يي دالله په حمد او ثنا باندي شروع کولي.<br>- هروخت کي چه به خلکو ته ضرورت وو،او مصلحت به وو خلکو ته به مخاطب کيدلو. |

## دويم امتحان

| سؤال: | صحيح | خطأ |
| --- | --- | --- |
| کله چه به يي قميص اچولو نو د ښي طرف نه به يي شروع کوله. | ☐ | ☐ |
| اکثره طعام به يي دسترخوان کي په زمکه باندي وو. | ☐ | ☐ |
| کله چه به دشپي سفر نه رالو نو خپل اهل به يي نه راپاخولو. | ☐ | ☐ |
| کله به يي دولړي نه خيتي پسي کاني ترل،اوکله به موړ هم وو. | ☐ | ☐ |
| علاج يي هم کړي دي دمونه يي هم اچولي دي. | ☐ | ☐ |
| وسواسي نه وو او نه يي دوسواسيانو په رنګه بدعي کارونه کول. | ☐ | ☐ |
| پاک حق دين باندي ليږل شوي دي،دشرک او دحرام د حلالولو خلاف وو. | ☐ | ☐ |
| اووه بچي يي وو،څلور زامن او دري لورګاني. | ☐ | ☐ |
| بچي يي ټول د خديجة ﵂ نه وو،نورو بيبيانو نه يي اولاد نه وو. | ☐ | ☐ |
| ټول اولاد يي دهغه نه مخکي وفات شوي دي. | ☐ | ☐ |
| په دي کي اختلاف نشته چه د نهه کسانو نه وفات شو: عائشة، وحفصة، زينب بنت جحش، أم سلمة، صفية، وأم حبيبة، ميمونة، سودة، جويرية | ☐ | ☐ |
| خديجة ﵂ باندي دالله دطرف نه دجبرايل په واسطه سلام راليږل شوي وو.او دا خاصيت بلي کومي ښځي له نشته. | ☐ | ☐ |

- رنګونو کي يي کوم رنګ خوښ وو: ☐ سپين ☐ تور ☐ چه کوم يو به ميسر وو(موجودوو)
- درسول الله ﷺ لباس: ☐ وړی به يی نه اچوله ☐ کاتن او کتان به يي اچولو ☐ کوم لباس چه به ميسر وو هغه به يي اچولو ☐ صرف اول اودويم
- لباس : ☐ قيمتي کپړه وه ☐ دبي رغبتی دوجي نه ارزانه کپړه وه ☐ درميانه

- بسم الله او الحمدلله به يي ويله: ☐ دخوراک په شروع کي ☐ په اخرکي ☐ اول او اخرکي
- ښکلا (شکل) به يي: ☐ په ناسته وو ☐ په ولاړه وو ☐ په ټولو حالاتو کي به وو.
- رسول الله ﷺ فرمايلي دي ماته ددي دنيا نه دري شيان محبوب دي: ☐ ښځي ☐ خوشبويي ☐ ذکرشوي ټول.
- رسول الله ﷺ فرمايلي دي زما دسترګو يخوالي په: ☐ جنت کي دي ☐ لمونځ کي دي ☐ دي ټولو کي دي.
- بيبيانو سره تعامل يي ښه: ☐ معاشرت وو ☐ اخلاق وو ☐ داټول ذکرشوي.
- انس ﷺ فرمايي چه رسول الله ﷺ مونږ ته دبريتونو او دنوکانوباره کي وخت خاص وخت معلوم کړي وو چه د (.....) ورځو او شپو نه به يي دير نه پريږدو: ☐ ديرش ۳۰ ☐ څلويښت ٤۰ ☐ پنځوس ۵۰
- سر خريلو طريقه يي: ☐ څه حصه به يي خريله او څه حصه به يي پريښودله ☐ يا به يي ټول پريښودلو يا به يي ټول خريلو.
- مسواک يي خوښ وو، او مسواک به يي کولو: ☐ بغير د روژي نه ☐ دروژي په حالت کي ☐ ټولو حالاتو کي.
- خندا يي ټوله: ☐ مسکا او تبسم وو ☐ ټوله تبسم وو
- ليرل شوي وو: ☐ ټولوخلکوله ☐ انسانانو او پيريانوله
- په لورګانو کي يي مطلقا بهترين او افضله لور: ☐ ټولي دي ☐ فاطمه ☐ زينب
- ددي بيبی نه بغير بلي کوم بيبی سره کمبل کي وربانديي وحي نه ده نازله شوي: ☐ حفصه ☐ أمُّ سلمة ☐ عائشة

| رسول الله ﷺ: | جنازي ته | دعوت | دکونډي مسکين او ضعيف د حاجتونو پوره کولو لپاره | دمريض |
|---|---|---|---|---|
| پوښتنه به يي کوله: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| حاضريدلو به: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| قبلولو به يي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او تللو به: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| درسول الله صلى الله عليه وسلم دکارونونه: | چيلی | جومات جوړلو کي ښختي | کړپي | نعل(څپره) | دخپل اهل او ځان |
|---|---|---|---|---|---|
| ګنډلي يي دي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| پيوند کړي يي دي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| لوشلي يي ده: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| خدمت يي کړي دي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او اوچتي کړي يي دي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| دفطرت نه: | دنوکانو دي | تخرګونودي | دنامه نه لاندي ويښته | ريري دي | دبريتونودي |
|---|---|---|---|---|---|
| کټ کول(لنډول)د: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| پريښودل د: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| لنډول: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| ويستل: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| خريل: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| درسول الله ﷺ دخوراک : | نه وو | خوړلو به يي | بغير دحراموالي به يي پريښودلو | موجود خوراک |
|---|---|---|---|---|
| نه به يي واپس کولو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| تکليف به يي نه ورکو چه شي به: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| پاک حلال چه به ورته مخکي کړي شو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| مګر کوم شي چه به نفس ونه منلونو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| رسول الله صلى الله عليه وسلم به : | کله به فارغ شو | خوراک دي | په يوه ګوته | پنځه ګوتو | په دري ګوتو |
|---|---|---|---|---|---|
| خوراك کولو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او ګوتي به يي ختلي چه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او دا بهتره : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| ځکه متکبرخوراک کوي په: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| او حريص خوراک کوي : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

# درسول الله ﷺ خصوصيات

## درسول الله ﷺ د خصوصیاتو نه

| | |
|---|---|
| ښايسته حنيفي دين باندي ليږل شوي دي | ابن القيم رحمه الله فرمايي: دين كي حنيفيت او ښايسته والي (نرمي) رايوځايي شوي دي،توحيد كي حنيفي دين دي او او اخلاقو كي هم ښايسته دي.او ددوه كارونو خلاف دي، شرک اودحرامو د حلال ګرځولو. |
| انسانانو او پيريانو ته ليږل شوي دي | رسول الله ﷺ فرمايي: انبياء به صرف خپلو قومونو ته ليږل كيدل،زه ټولو خلكو ته ليږل شوي يم . |
| كتاب او دعوت | الله تعالى فرمايي: ﴿الر ۚ كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾[إبراهيم]. |
| نبي(معجزة) | غته معجزه او (نښه) يي قران دي،هرهغه معجزه چه مخكي انبياو له وركړل شوي ده،څه ناڅه حصه يي رسول الله ﷺ له هم ورنه وركړي ده. |
| دهغه سره محبت دين دي | رسول الله ﷺ فرمايي: ترهغه پوري يو ستاسونه مومن كيدلي نه شي ترڅو چه زه ورته دزوي نه دپلار نه او دټولو خلكو نه محبوب نه شم. |
| درسول الله صلى الله عليه وسلم سره حسد كولو والا | كفر اكبر باندي كافردي الله تعالى فرمايي:<br>﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾[الكوثر]. |
| دوست | رسول الله ﷺ فرمايلي دي : زه الله تعالى دوست نيولي يم لكه څنګه چه يي ابراهيم عليه السلام نيولي وو په دوستۍ باندي). |
| اولوالعزم رسولانو نه دي | الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ﴾[الأحزاب:٧]. |
| علم | رسو ل الله ﷺ فرمايي: «**أَمَا إِنِّي أَعْلَمُكُمْ بِاللهِ**»، او الله تعالى فرمايي: ﴿ قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ﴾[الأنعام:٥٠]. |

| | | |
|---|---|---|
| درسول الله ﷺ د خصوصیاتو نه | داطاعت او د مخالفت حکم | الله تعالی فرمایي: ﴿اي پیغمبره دوی ته اوو‌ایه که چرته تاسو دالله سره محبت کوی نو زما تابعداري وکړی، نو الله به تاسو سره محبت وکړي، او ستاسو ګناهونه به معاف کړي﴾[آل عمران:۳۱]،رسول الله ﷺ فرمایي: تاسو ټول به جنت ته داخليږی مګر هغه څوک چه انکار وکړي،تپوس ورنه وشو څوک انکار کوي؟ ویي فرمایل: چاچه زما اطاعت وکړو جنت ته به داخل شي او چاچه نافرماني وکړه نو انکار یي وکړو ) او فرمایي څوک چه زما مخالفت کوي الله وربandي ذلت لیکلي دي.) |
| | امت | الله تعالی فرمایي:: ﴿تاسو بهترین امت یي چه د خلکو لپاره وتلي یی نیکی باندي حکم کوي او د بدی نه منع کوی او په الله باندي ایمان راوړی﴾[آل عمران:۱۱۰]، رسول الله ﷺ فرمایي: «**زما دي په هغه ذات باندي قسم وي چه زما نفس دهغه په لاس کي دي،زه دا طمع لرم چه تاسو به دجنت حصه جوړيږي.** |
| | ښار | مکه د رسول الله ﷺ ښار دي،الله تعالی فرمایي:﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ * فِيهِ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ مَّقَامُ إِبْرَاهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا ۗ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ﴾[آل عمران].<br>او مکه د حرمت والا ښار دي،رسول الله ﷺ فرمایي: «الله تعالی دا ښار دحرمت والا ګرځولي دي دهغي ورځي نه چه په کومه ورځ یي زمکه او اسمانونه پیداکړل، نو دا دالله په حرمت سره حرام دي»، او ترقیامته دمسلمانانو ښاردي، فرمایي ( دفتحي نه بعد هجرت نشته). |
| | قبله | درسول الله ﷺ قبله کعبه وه، او ددي نه مخکي بیت المقدس قبله وه،الله تعالی فرمایي: ﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۚ وَحَيْثُ مَا كُنتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾[البقرة:۱۴۴].<br>او مسجد الحرام دزمکي په مخ باندي اولني مسجد دي،ابوذر ﷺ فرمایي ما درسول الله ﷺ نه تپوس وکړو‌اولني مسجد باره کي چه دزمکي په مخ باندي دي، نو ویي فرماییل چه مسجد الحرام.<br>رسو الله ﷺ فرمایي: څوک چه بیت الله ته رالړ او فسق او ګناه یي ونه کړه او بیا لاړو نو داسي دی لکه دمور نه چه نوی پیدا شوي وي . یعني ګناهونو نه به پاک وي. |

| درسول الله ﷺ د خصوصیاتو نه | قبله | او رسول الله ﷺ فرمايي: مسجد الحرام کي يو لمونځ په يو لک لمونځونو باندي دي او زما مسجد کي يو لمونځ په زر لمونځونو باندي دي،او بيت المقدس کي يو لمونځ په پنځه سوه لمونځونو دي،)او فرمايي: سفرونه مه کوئ مګر دي دري مسجدونو ته يي وکړئ **مَسْجِدِ الحَرَامِ، اوزما مسجد، اومَسْجِدِ الأَقْصَى ته**».<br>او رسول الله ﷺ فرمايي: (کله چه تاسو قضاء حاجت ته لاړ شئ نو قبلي ته مه مخ کوئ او مه ورته شا کوئ، بلکه شرق او غرب طرف ته شئ). |
|---|---|---|

## درسول الله ﷺ رشته داري او بيبياني

### درسول الله ﷺ اووه اولاده وو: دري زامن او څلور لورګاني

| | |
|---|---|
| [١] قاسم، او په دي باندي درسول الله ﷺ كنيه هم وه | [٢] زينب ﵂ |
| [٣] رقيَّة ﵂ | [٤] أمُّ كلثومٍ ﵂ |
| [٥] فاطمة ﵂ | [٦] عبد الله، چه طيب او طاهر يې لقب وو. |

[٧] إبراهيم، او دا د ماريه القبطيه نه وو، او باقي اولاد يې ټول د خديجه ﵂ نه وو، دنورو بيبيانو نه يې اولاد نه وو.

ټول اولاد يې درسول الله ﷺ دوفات نه مخكي وفات شوي وو، صرف فاطمة ﵂ چه درسول الله ﷺ دوفات نه شپږ مياشتي بعدوفات شوه، الله تعالى دهغي دصبر او اجر په وجه چه دپلار وفات يې وليدلو او صبر يې وكړو. الله يې درجات اوچت كړه، او فضل او مقام يې ورله وركړوچه د ټول عالم ښځو كي بهتره ښځه وګرځيدله. او فاطمة على الا طلاق په ټولو لورګانو كي افضله وه، او ټولو لورګانو يې اسلام درك كړي وو اسلام يې راوړي وو او هجرت يې ورسره كړي وو.

### يوولس ترونه(كاكا) يې وو

| | | | |
|---|---|---|---|
| [١] سيِّدالشُّهداء حمزة ﵁ | | [٢] عبَّاس ﵁ | |
| [٣] أبو طالبٍ، نوم يې عبد مناف وو | | [٤] أبو لهب، نوم يې عبد العُزَّى وو | |
| [٥] زبير | [٦] عبد الكعبة | [٧] المُقوِّم | [٨] ضِرار |
| [٩] قُثَم | [١٠] المُغيرة، اولقب يې حجل وو | [١١] الغَيداق، نوم يې مُصعبٌ وو | |

ترونو كي يې صرف حمزه او عباس ﵄ اسلام راوړي وو.

**شپږ يې تروركاني وې**

[١] صفيَّة، او دا د زبير بن العوام ﷺ مور وه

[٢] أمُّ حكيمٍ البيضاء

[٣] عاتكة

[٤] برَّة

[٥] أروى

[٦] أميمة

**درسول الله ﷺ بيبياني چه نومونه يې دي ټكو كې دي: حَجَزَ صَخَرْ سَمْعَةُ**

**حجز**

(حاء) = حفصة بنت عمر بن الخطَّاب ﷺ .

(جيم) = جويرية بنت الحارث ﷺ

(ز) = زينب بنت جحشٍ ﷺ + زينب بنت خزيمة ﷺ.

**صخرْ**

(صَّاد) = صفيَّة بنت حُيَيِّ بن أخطب ﷺ

(خاء) = خديجة بنت خويلدٍ ﷺ.

(ر) = أمُّ حبيبة رملة بنت أبي سفيان ﷺ.

**سمعه**

(س) = سودة بنت زمعة ﷺ.

(م) = ميمونة بنت الحارث ﷺ.

(ع) = عائشة بنت أبي بكرٍ ﷺ.

(ه) = أمُّ سلمة هند بنت أبي أميَّة ﷺ.

**خديجة ﷺ**

اولنۍ بيبي يې خَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ الْقُرَشِيَّةُ الْأَسَدِيَّةُ ﷺ وه،او دې سره يې دنبوت نه مخكې واده كړې وو،او عمريې څلويښت كاله وو،دهغې تر مرګه پورې رسول الله ﷺ بل واده نه ووكړې،دابراهيم نه بغير نور ټول بچې يې ددې نه وو،او دې ورله دنبوت په ابتداء كې ډير مدد كړې وو،دمال او ځان قرباني يې وركړې وه،او الله تعالى دجبرايل عليه السلام په واسطه په دې سلام راليږلى دې، او دا خاصيت صرف دې پورې خاص دې،دهجرت نه درې كاله مخكې وفات شوه.

**سودة ﷺ**

دخديجه ﷺ د وفات نه بعد يې د سَوْدَةَ بِنْتَ زَمْعَةَ الْقُرَشِيَّةَ ﷺ سره نكاح وكړه،او دا هغه زنانه وه چه خپله ورځ يې عائشة ﷺ ته وهب كړې وه.

عائشة رضي الله عنها

دسودة ﷺ نه بعد يې د عبدالله مور عائشة الصديقة دصديق لور،سره نكاح وكړه،چه داسمانونو دپاسه دهغې براءت الله تعالى كړي دي، درسول الله ﷺ محبوبة،دنكاح نه مخكې ملائكي ورته پيش كړي وه چه دا ستا بي بي ده،دشوال په مياشت كي يي نكاح كړي وه، اوعمر يي شپږكاله وو،او بياد هجرت په او ل كال يي واده وكړو چه عمر يي نهه كاله وو،او ددې نه علاوه يي بله كومه پيغله ښځه نه ده كړي،صفايي يې داسمان نه پيش شوي ده،او د امت په دې باندې اتفاق دې چه څوك وربانديې تهمت لګوي (دقذف) هغه كافردې،او دا درسول الله ﷺ په بيبيانو كي پوهه او فقيه عالمه وه، بلكه دامت په ټولو ښځو كي فقيه او پوهه ښځه وه،تردې چه درسول الله ﷺ كبار صحابه و به ددې قول ته رجوع كوله او فتوي به يي ورنه اخستلې.

حفصة رضي الله عنها

بيا يي حفصه دعمر بن خطاب رضي الله عنه لور سره واده وكړو،او دې د خپل اولني خاوند خُنَيْسِ بْنِ حُذَافَةَ السَّهْمِيِّ رضي الله عنه سره اسلام راوړي وو،او د هغه سره يي مديني ته هجرت هم كړي وو، بيا يي خاوند غزوة احد كي شهيد شو،نو بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم په نكاح كړه.

زينب بنت خزيمة رضي الله عنها

بيايي زَيْنَبَ بِنْتَ خُزَيْمَةَ بْنِ الْحَارِثِ الْقَيْسِيَّةَ رضي الله عنها چه د بَنِي هِلَالِ بْنِ عَامِرِنه وه،نكاح وكړه، او دا دواده نه دوه مياشتي بعد وفات شوه،او دا هغه وه چه دې ته ام المساكين(دمسكينانو مور) لقب وركړل شوي وو.

أم سلمة رضي الله عنها

بيا يي د أُمَّ سَلَمَةَ هِنْدَ بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ الْقُرَشِيَّةَ الْمَخْزُومِيَّةَ رضي الله عنها،سره واده وكړو،او دا يي په بيبيانو كي ټولو كي اخر كي وفات شوي ده، دهجرت په دوه شپيتم كال كي وفات شوي ده.

جويرية رضي الله عنها

جُوَيْرِيَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ بْنِ أَبِي ضِرَارٍ الْمُصْطَلِقِيَّةَ رضي الله عنها سره يي واده وكړو،او دا دبني مصطلق وه،رسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي مدد غوښتلو چه ازاده شي، نورسول الله ﷺ هغه ازاده كړه او نكاح يي ورسره وتړله.

**زينب بنت جحش ﵂**

بيا يي د بني اسد بن خزيمة نه  دترور(اميمة) لور  زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ ﵂ سره واده وکړو.او ددي باره کي الله تعالى دا ايت نازل کړي دي: ﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا ﴾[الأحزاب:٣٧]،او په دي باندي به يي دنورو بيبيانو په مخکي فخر هم کولو او دا به يي ويلي چه تاسو ستاسو کورونو والارسول الله ﷺ  ته  په نکاح کړي يي او زه الله تعالى داووه اسمانونو نه بره رسول الله ﷺ ته په نکاح کړي يم.

او ددي د خصوصياتونه داده چه الله تعالى ددي ولي وو،او خپل رسول ﷺ ته يي داسمانونو دپاسه په نکاح کړه،دعمر ﵁ دخلافت په ابتداء کي وفات شوه،او ددي نه مخکي دزيد بن حارثه په نکاح کي وه کوم چه رسول الله ﷺ ورته متبني (زوي)ويلي وو،کله چه هغه طلاقه کړه نو الله تعالى رسول الله ﷺ ته په نکاح کړله، ددي لپاره چه امت يي هم تابعداري وکړي دمتبني په احکامو کي،

**أمُّ حبيبة رضي الله عنها**

بيا يي ام حبيبة ﵂ سره واده وکړو چه نوم يي رَمْلَةُ بِنْتُ أَبِي سُفْيَانَ صَخْرِ بْنِ حَرْبٍ الْقُرَشِيَّةُ الْأَمَوِيَّةُ دي، په نکاح يي کړله او هغه په حبشة کي مهاجره وه،او نجاشي بادشاه ددي مهر څلورسوه ديناره اداء کړو،او بيا د هغي ځاي نه راوستل شوله،

**صفيَّة ﵂**

بيا يي صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيِّ بْنِ أَخْطَبَ سَيِّدِ بَنِي النَّضِيرِ هَارُونَ بْنِ عِمْرَانَ دمُوسَى ورو، داولاد نه، واده وکړو،نو ددي پلار هم نبي او خاند هم نبي وو،او دا دټول عالم د ښځو کي ښايسته ښځه وه،او دا وينځه راغلي وه،او ددي ازادول يي ددي لپاره مهر وګرځولو،نو دا بيا سنت جوړ شو.

**ميمونة ﵂**

بيا يي مَيْمُونَةَ بِنْتَ الْحَارِثِ الْهِلَالِيَّةَ ﵂ سره واده وکړو، او دا يي اخري بي بى وه،چه ورسره يي واده وکړو، او دايي مکه کي عمرة القضاء نه وروسته وکړه.

درسول الله ﷺ د وفات نه بعد اولنى ښځه چه وريسي وفات شوي ده زَيْنَبُ بِنْتُ جَحْشٍ ﵂ ده، شلم کال کي وفات شوه،او اخري ښځه چه وفات شوي ده ام سلمة ﵂ ده،چه دوه شپيتم کال د هجرت کي ديزيد بن معاويه په خلافت کي وفات شوه.

# دویمه برخه: درسول الله ﷺ سیرت

# اولني باب: دبعثت(نبوت) نه مخكي

<table>
<tr><td>پيدائش</td><td colspan="3">رسول الله ﷺ د هجرت نه ٥٣ كاله مخكې په كال د (فيل د واقعې) عام الفيل كې د ربيع الأول مياشت كې، چه ٥٧١ ميلادي سره برابر دي،په مكه مكرمه كې پيداشوي وو.</td></tr>
<tr><td>پلار يې</td><td colspan="3">عبدالله دعبدالمطلب زوي،داسې وخت كې وفات شو چه رسول الله ﷺ دمور په خيټه كې وو، نو رسول الله ﷺ يتيم پيداشو.</td></tr>
<tr><td>مور يې</td><td colspan="3">آمنة بنت وهبٍ د بني زُهرة د خاندان نه.د رسول الله ﷺ اووه كاله نه وو پوره شوي چه وفات شوه.</td></tr>
<tr><td>كفالت</td><td colspan="3">دمور دوفات نه بعد يې نيكه عبدالمطلب كفالت وكړو.بيا هغه وفات شو،او رسول الله ﷺ د اته كالو وو،بيا يې خپل تره ابوطالب چه نوم يې عبدمناف وو كفالت وكړو.</td></tr>
<tr><td rowspan="2">درسول الله ﷺ رضاعى موركانى</td><td>ثويبة</td><td colspan="2">دابو لهب وينځه وه،او دابوسلمة عبدالله بن عبدالأسد المخزوميَّ ﷺ او درسول الله ﷺ د تره حمزة بن عبدالمطلب هم رضاعي مور وه.</td></tr>
<tr><td>حليمة السَّعديَّة</td><td colspan="2">دخپل زوي عبدالله چه دشيماء ورور دي دحارث بن عبدالعزى بن رفاعة السعدي اولاد دي، سره يې پې وركړې وي،او ددې سره يې همدارنګه دده دتره زوي ابوسفيان بن الحارث بن عبدالمطلب له هم پې وركړې وي.</td></tr>
<tr><td rowspan="2">هغه زنانه چه رسول الله ﷺ يې په غيږ كې اخستلې وو</td><td>مور يې امنه</td><td>ثويبة دابولهب وينځه</td><td>حليمة بنت أبي ذُؤيبٍ السَّعديَّة</td></tr>
<tr><td>شيماء</td><td colspan="2">دحليمة بنت السعدية ﷺ لور او درسول الله ﷺ رضاعي خور،او دا هغه ده كومه چه د بني هوازن په وفد كې راغله رسول الله ﷺ ورته څادر خور كړلو د هغې د حق او د احترام دوجې نه.</td></tr>
</table>

| | | |
|---|---|---|
| هغه زنانه چه رسول الله ﷺ یې په غیږ کې اخستلی وو | أُمُّ أيمن | بركة الحبشيه ﷺ او دا رسول الله ﷺ ته د پلار نه میراث کي پاتي وه،او دا یې دایي هم وه. رسول الله ﷺ زید بن حارثة ته په نکاح کړه او دهغي نه یې اسامة بن زید ﷺ پیدا شو. او دا هغه زنانه ده چه کله درسول الله ﷺ دوفات نه بعد ابوبکر اوعمر ﷺ ورغلل نو دي ژړل هغوي ورنه تپوس کوي چه ولي ژاړي بیشکه دالله سره دخپل نبي لیاره ښه مقام دي، هغه ورته وایي زه په دي پوهیږم لیکن ژاړم په دي چه داسمان نه وحي بنده شوه. نو دواړو ورسره وژړل. |
| درسول الله ﷺ کار | | رسول الله ﷺ کډي چیلی ساتلي ،او دا ددي وجه وه چه صبر پکي وو، او کمزورو باندي به یي رحم کولو او دهغوی خیال به یي ساتلو. رسول الله ﷺ فرمایي : الله تعالی هیڅ یو نبي نه دي لیږلي مګر کډی او چیلی یي ساتلي دي،صحابه ورنه تپوس کوي یارسول الله تاهم؟ فرمایي هو ماهم په مکه کي ساتلي دي. |
| تجارت او واده | | رسول الله ﷺ چه ۲۵ کالو عمر ته ورسیدلو نو شام ته د تجارت لپاره لاړو،الته بصری ته ورسیدلو،بیا واپس رالو،او د راتلونه بعد یي دخدیجة بنت خویلد ﷺ سره واده وکړو چه دا یي اوله بي بي وه. . |
| دکعبي جوړول | | کله چه رسو ل الله ﷺ ۳۵ کالو ته ورسیدلو، نو قریشو د کعبي ابادي دسر نه نوي کوله ځکه چه کمزوري شوي وه،کله چه یي بنیادونه د حجر اسود ځاي ته ورسید ل نو دلته یي اختلاف شوچه دا حجر اسودبه څوک اوچتوي هر چا ویل چه اوچت یی کړي،او په دي کي یي څلور شپي تیري کړلي،بیا یی په دي باندي فیصله وکړه چه هر څوک اول مسجد ته رادننه شو،نو هغه به فیصله کوي،نواول چه رالو هغه رسول الله ﷺ وو. نو هغوی دفیصلي لپاره منتخب کړو،رسول الله ﷺ دیوڅادر ښورولو حکم وکړو او حجر اسود یي پکي کیښودلو او دهري قبیلي مشر یي یوه یوه څنډه ونیوله اوچت یی کړو او رسول الله ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو کیښودلو. |
| خلوت | | عائشة ﷺ فرمایي: درسو ل الله ﷺ خلوت خوښ وو،غار حراء ته به تللو او عبادت به یي کولو. بتان او د خپل قوم دین سره یي بغض وو،او دبتانو او یي دینی سره یي ډیر بغض وو. |

# دويم باب: دوحي ابتداء

کله چه رسول الله ﷺ د ځلوېښت کالو شو نو د نبوت انوار ورباندي نازل شو،او الله تعالی وربانديي درسالت کرم وکړو او دا د يوم الاثنين (پير، دوشنبه) ورځ باندي وو.

نبوت

عائشة ﷺ فرمايي : اول چه وحي شروع شوه نو د نيک خوب په شکل باندي به وه، کوم خوب چه به يی وليدلو نو دسهار راختلو په رنګه به ريشتيا کيدلو،بيا ورته يواځي والي خوښ شو نو غار حراء ته به تللو او عبادت به يي کولو بيا به رالو او خديجه ﷺ به ورله خوراک تيار کړي وو د څو شپو برابر بيا به لاړو، تر دي چه غار حراء کي وربانديي وحي راله، ملائک ورله راځي ورته وايي چه اوايه (اقرأ) هغه ورته وايي زه ويونکي نه يم نه شم ويلي،فرمايي چه بيا يي زه ونيولم او زور يي راباندي وکړو بيا يي پريښودم بيا يي اوييلي (اقرأ) اوايه بيا مي اوييل زه نه شم ويلي.بيا يي غيږ کي دريم ځل ونيولم او زور يي راباندي وکړو،بيا يي پريښودم نو بيا يی اوييلي ﴿ **اقرأ باسم ربك الذي خلق**﴾**[العلق]**،رسول الله ﷺ کور ته رالو او د يري نه خوزيدلو، او خديجة ﷺ ته يي وفرماييلي چه پټ مي کړه کمبل راباندي واچوه خديجة ﷺ په کمبل کي پټ کړو.کله چه ورنه يره لاړه نو خديجة ﷺ يي خبره کړله، او ورته وايی چه زه په خپل ځان ويريدم، هغه ورته وايي : کله هم نه  په الله قسم الله به تا کله هم نه خرابوي،ته صله رحمي ساتي،دميلمه احترام کوي، د کمزورو مدد کوي،بيا يي ورقة بن نوفل بن اسد بن عبدالعزی له چه د خديجة ﷺ دتره زوي وو راوستلو.او دا په جاهليت کي نصراني وو او د عبراني ژبي ليکونکي وو نو انجيل به يي په عبراني کي ليکلو،او مشر سړي وو په سترګو ړوند وو. خديجة ﷺ ورته فرمايي اي تره! دخپل وراره خبري دي واوره،رسول الله ﷺ ورته تولله قيصه وکړه، نو هغه ورته اوييل دا هغه ملائک دي کوم چه موسی عليه السلام باندي نازل شوي وو،کاش چه زه هغه وخت ژوندي يم کله چه ستا قوم تا د خپل کلي نه اوباسي،نو رسول الله ﷺ ورته وايي ايا زما قوم به ما اوباسي؟ هغه ورته اوييل هو! کله چه هم داسي څوک راغلي دي او ستا رسالت ورسره وي هغه ويستل شوي دي،او که زه چرته هغه وخت کي ژوندي ووم نو زه به دي ډير مدد وکړم،ليکن هغه وفات شو.

رسول الله ﷺ فرمايي چه زه يوه شپه په غارحراء کي ووم چه داسمان نه مي اواز واوريدلو،نو ما سترګي اوچتي کړلي اسمان طرف ته،ګورم چه يو ملائک داسمان او دزمکي په منځ کي په کرسی

| | | |
|---|---|---|
| نبوت | | باندي ناست وو،نو زه ورنه ډير ويريدم په رعب كي شوم،نو كور ته رالم او خديجې ﷺ ته مي اوييلي: پټ مي كه پټ مي كه، نو الله تعالی دا ايت نازل كړو: ﴿ياأيها المدثر،قم فأنذر﴾ تردي ايت پوري: ﴿والرجزفاهجر﴾[المُدَّثِر]، |
| دوحي مرتبې | [١] ريښتيني خوب | او دا يي دوحي ابتداء وه، عائشة ﷺ فرمايي: چه خوب به يي نه ليدلو مګر د صباح دراختلو په رنګه به ريشتيا كيدلو. ». |
| | [٢] الهام او زړه كي اچول | ملائک بـه ورتـه ذهـن او زړه كي الهـام اچولـو بغير د ليـدلو نـه، فرمـايي : «إنَّ الروحَ الأمينَ نفث في روعي وأخبرني أنَّهُ...». |
| | [٣] ملائکه د چاپه شکل کې راتلل | رسول الله ﷺ فرمايي: ملائک به كله دسړي په شكل باندي راتللو او په خبره به يي پوهيدم،»، او دي مرتبه كي به صحابو هم كله كله ليدلو. |
| | [٤] د تلی داواز په رنګه | رسـول الله ﷺ فرمايي: كله ملائک د تلی داواز په شكل راځي او دا دټولو نـه سخت حالت دي چه كله دا حالت ختم شي نـو څه چه يي ويلي وي ما يادكړي وي ورنه. عائشة ﷺ فرمايي :مارسـول الله ﷺ ليدلی وو چه سختـه يخنی كي بـه وربانـدي وحي نازليدله كله چه به ختمه شوه نو په تندي به يی خولي وي. بلكه كه په سوارلی به ناست نو سوارلی به كيناستله. |
| | [٥]ملائکه په خپل شکل کې | په كوم شكل كي چه الله تعالی پيدا كړي دي په هغه شكل به رسـول الله صلی الله عليـه وسلـم ليدل، او وحي بـه يي كولـه،او دي طريقـه كي دوه ځل راغلي دي،لكه څنګه چه الله تعالی سورت النجم كي ذكر دي. |
| | [٦] دالله د طرف نه وحي | او دا هغـه چـه الله تعـالی ورتـه ډايركـټ وحي كـړي وي.او دا داووه اسـمانونو دپاسه دمعراج په شپه كي دلمونځ فرض كول وغيره.. |
| | [٧] دالله سره خبري كول | دالله ورسره بلاواسـطي خبري كول،لكه دموسی عليـه السلام سره دالله تعالی خبري كول. |

| | |
|---|---|
| اول نازل شوي ايتونه | دسورت العلق اولني پنځه ايتونه ﴿ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴾. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| درسول الله ﷺ ددعوت مرتبې | [١] نبوت | [٢] دنژدې خپلوانو يرول د الله دعذاب نه(خبرداري وركول) | [٣] دخپل قوم يرول(دالله دعذاب نه) |
| | [٤] داسي قوم له يره وركول دي كوم له چه دمحمد ﷺ نه مخكي څوك يرونكي نه وي راغلي او هغه عرب قاطبه دي. | | |
| | [٥] دهر هغه چا يرول چاته چه درسول الله ﷺ دعوت رسيدلي وي دپيريانو اوانسانانو نه تر قيامته پوري. | | |

| | |
|---|---|
| ددعوت مرحلې | [١] **پټ دعوت**: دبعثت اولو دري كلونو پوري وو. |
| | [٢] **ښكاره دعوت**: كله چه ورته ددي حكم وشو.: ﴿فاصدع بماتؤمر﴾[الحجر:٩٤]. |

| | | |
|---|---|---|
| اول ايمان راوړونكي | **دسړو نه**: أبو بكرٍ الصِّدِّيق. | **دښځو نه**: خديجة بنت خويلدٍ. |
| | **دماشومانو نه**: عليُّ بن أبي طالبٍ. | **خادم**: زيد بن حارثة. |
| | **دغلامانو نه**: بلال بن رباحٍ الحبشيُّ. | |

| | |
|---|---|
| ځيني مخكيني مومنان | اولني خلک چه رسول الله ﷺ باندی يي ايمان راوړي دي داهل بيتو نه بيا عثمان بن عفَّان، طلحة بن عبيد الله، الزُّبير بن العوَّام، سعد بن أبي وقَّاصٍ، عبد الرَّحمن بن عوفٍ، خبَّاب بن الأرتّ، صهيبٌ الرُّوميُّ، عمَّار بن ياسرٍ، او مور يي سميَّة، أبو عبيدة عامر بن الجرَّاح، عثمان بن مظعونٍ، أبو سلمة بن عبد الأسد، اوعتبة بن غزوان رضوان الله عليهم اجمعين وو. |

## دريم باب : مكي دور

**دمشركينو د طرف نه رسول الله ﷺ او صحابه ته تکليف ورکول**

کله چه مشرکينو درسول الله ﷺ ريشتيني دعوت وليدلواو د خلکو راټوليدل يي ورباندي وليدل نو ډير زيات سخت تکليفونه يي وررسول چه ځيني يي دادي:

- هغه په جادوګر باندي مشهورول چه خلک ورنه نفرت وکړي.
- هغه په ليوني باندي مشهورول چه خلک ورباندي د بي وقوف ګمان وکړي.
- هغه په دروغجن باندي مشهورول ددي لپاره چه مخکي نه چه په صادق او امين مشهور شوي دي چه هغه ختم شي.
- په هغه باندي او کوم رسالت چه يي راوړي دي استهزاء کول.
- درسول الله ﷺ خلکو ته ددعوت په وخت کي شور کول ددي لپاره چه خلک وحي وا نه وري او حق قبول نه کړي.
- دمکي نه بهر عمري او حج له راتلونکو خلکو استقبال کول او هغوی درسول الله ﷺ نه منع کول.
- هغه له تکليف ورکول لکه عقبة بن ابي معيط چه کېږه ورله مرئ(غاړه) کي واچوله تردي پوري چه ساه يي بندده شوه ابوبکر ﷺ رالو او ورنه يي لري کړو،همدارنګه هغه باندي يي د اوښانو ګندګي وغورزوله چه فاطمة ﷺ ورنه لري کړه.
- دهغه د قتلولو کوشش کول تردي چه درسول الله ﷺ تره له راغلل او ورته يي اوييل چه ددي بدل کي به عمارة بن الوليد درکړو ، او دا به قتل کړو، همدارنکه د هجرت په ورځ يی هم د قتل کولو کوشش وکړو.
- دبلال ﷺ په خيټه باندي به يي کاڼي کيښودل، لکه څنګه چه يي د عمار بن ياسر د خاندان او نورو صحابه سره کړي وو.

**حبشي ته هجرت**

کله چه مسلمانان ډير شول او کفار ورنه ويريدل، نو په مسلمانانو باندي يي ظلمونه او تکليفونه ډير کړل،نو رسول الله ﷺ صحابه ته حبشي ته د هجرت کولو اجازت ورکړو او دا يي ورته اوييل چه الته داسي يو بادشاه دي چه چاسره ظلم نه کوي، يعني د هغه په بادشاهي کي خلکو سره ظلم نه کيږي.

| | | |
|---|---|---|
| حبشې ته هجرت | اولی هجرت | په دې هجرت کې ۱۲ سړي او څلور (۴)زنانه شاملې وې،او دټولو نه اول عثمان بن عفان ﷜ او ښځه يې رقيه چه درسول الله ﷺ لور ده اووتل،حبشې ته لاړل څه وخت پاتې شول خبر ورله راغلو چه قريشو اسلام قبول کړي دي،ليکن دا خبر دروغ وو،خو هغوی مکې ته راوګرځيدل،کله چه پوهه شول چه تکليف دمخکې نه هم ډير دي ،ځينې خلک ورنه بيا لاړل،او څه خلک پاتې شول او ډير تکليفونه يې وليدل،چه دهغوی نه يوعبدالله بن مسعودٍ ﷜ وو. |
| | دويم هجرت | په دې هجرت کې ۸۳ سړي او ۱۸ زنانه شاملې وې،دنجاشي سره خوشحاله پاتې شول،قريشو ته چه خبر ورسيدلو نو يوه ډله يې دعمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربيعه په مشرۍ نجاشی ته وليږله چه په څه چل دوی الته نه واپس کړي ليکن الله ددوي چل فريب ناکام کړو. |
| دحمزه او عمر اسلام | | په شپږم کال د نبوت باندې حمزة بن عبدالمطلب اسلام راوړو، او دا په قريشو کې عزتمند انسان وو، الله تعالی وربانډې رسول الله ﷺ نور هم عزتمند کړو،او ددې نه وروسته درسول الله ﷺ ددعاء په برکت عمر ﷜ اسلام راوړو، الله وربانډې مومنان مظبوط کړل او د قريشو د شر نه بچ شول. |
| شعب أبي طالب | | قريشو رسول الله ﷺ ته تکليف رسول ډير زيات کړل، تردې چه يو غار کې چه (شعب ابي طالب ) يې نوم دې درې کاله رسول الله او خاندان يې بند کړل،او همدې غار کې دعبدالله بن عباس رضي الله عنه ولادت هم وشو، مشرکينو رسول الله ﷺ ته ډير تکليف ورسولو کله چه دغار نه وتلو نو ٤٩ کاله عمر وو. |
| دابوطالب او د خديجې وفات | | ددې نه يو څو مياشتې وروسته درسول الله ﷺ تره ابوطالب د ۸۷ کالو عمر کې وفات شو،او ددې نه لږ وخت وروسته خديجة ﷝ وفات شوه،او د کفارودطرف نه تکليفونه نور هم ډير شول. |
| طائف ته وتل | | دزيد بن حارثه ﷜ سره دالله ددين ته دعوت کولو لپاره د طائف طرف ته لاړو،او الته څو ورځې پاتې شو، ليکن چا يې هم دعوت قبول نه کړو بلکه ډير تکليف يې ورکړو او د طائف نه يې اويستلو او په کاڼو يې اويشتلو تر دې چه د ښپو مبارکو نه يې وينې لاړې، واپس مکې ته راغلو او دمطعم بن عدي سره يې پناه واخستله. |

| | |
|---|---|
| دعداس اسلام راوړل | دطائف نه دراتلو په وخت کي لاره کي د عداس نصراني سره ملاقات وشو او په رسول الله ﷺ باندي يي ايمان راوړلو. |
| دپيريانو ايمان راوړل | همدارنگه مکی ته په لاره کي د نخله مقام سره ځيني پيريانو سره ملاقات او دقران اوريدل وشو چه هغوی بيا ايمان راوړلو. |
| اسراء او معراج | بيا روحا او جسدا دشپي مسجد اقصی ته بوتلل شو،او د هغه ځاي نه بيا روحا او جسدا داسمانونو د پاځه دالله طرف ته وخيژول شو، الله تعالی ورته مخاطب شو او پنځه وخته لمونځونه هم ورباندي فرض کړي شول. |
| قبائلو ته داسلام دعوت ورکول | په مکه کي ډير وخت په هر موسم کي به يي قبائلو له دعوت ورکولو ليکن هيڅ کومي قبيلي يي دعوت قبول نه کړو او دا اکرام الله تعالی د انصارو په حق کي ليکلي وو، چه دانصارو د قبيلي نه شپږ کسان رالل او اسلام يي قبول کړو کله چه مديني ته لاړل نواسلام پکي نشر شو،او د انصارو هيڅ يو کور پاتي نه شو مگر درسول الله ﷺ ذکر به پکي کيدلو، |

| | | |
|---|---|---|
| انصار او بيعة العقبة | البيعة الأولى(اولني بيعت) | بيا راروان کال دانصارو ١٢ کسان مکي ته راغلل چه پنځه پکي د اولني کسانو نه وو،او درسول الله ﷺ سره يي بيعت وکړو.لکه حنگه چه الله تعالی سورة الممتحنة کي ذکرکړي دي، او بيا مديني ته لاړل. |
| | البيعة الثّانية(دويم بيعت) | بيا په راروان کال کي ٧٣ سړي او ٢ زنانه راغلي ،درسول الله ﷺ سره يي بيعت وکړو. |

# څلورم باب: مدني دور

## دهجرت اجازت

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته مديني ته د هجرت کولو اجازت ورکړو،نو هغوی لاړل،او په دي کي اولني نفر چه ويل کيږي: أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ الْمَخْزُومِيُّ دي،او داسي هم ويل شوي دي چه مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ ﷺ وو، انصارو له ورغلل هغوی خپلو کورونو کي وساتل مدد يي وکړو، او مدينه کي اسلام نشر شو. .

بيا رسول الله ﷺ ته د هجرت اجازت ورکړل شو،نو مکي نه دربيع الأول په مياشت کي د پير(دوشنبي ) په ورځ روان شو، چه عمر يي دي وخت کی ۵۳ کاله وو، اورسره ابوبکر او عامر بن فهيرة او د لاري ښودونکي عبدالله بن اريقط ملګري وو، بيا غار ته دننه شول او غار کي يي دري ورځي تيري کړلي،بيا دساحل په لاره روان شول .

## مديني ته داخليدل

کله چه د خپلو ملګرو سره مديني ته ورسيدلو، نو قباء ته لاړو، او د عمرو بن عوف سره ۱۴ ورځي پاتي شو.

## اسلام کي اولني مسجد

دمسجد قباء بنياد يي کيښودلو، ابن عمر ﷺ فرمايي: رسول الله ﷺ به دهري هفتي په ورځ مسجد قباء ته پيدل او په سوارلی باندي راتللو،او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (مسجد قباء کي لمونځ دعمري د اجر برابر دي.).

## دمسجد نبوي جوړول

بيا خپلي سوارلی باندی سور شو او روان شو هر چابه د سوارلی پړی نيولو چه زما په ځاي کي راښکته شی ليکن رسول الله ﷺ ورته ويلي : (داوښي لاره پريږدی دي ته امر کړي شوي دي) نو نن چه کوم ځاي کي مسجد دي همدلته کيناستله،او داځمکه دبني نجار ددوه ماشومانو وه، سهل او سهيل،بيا دابو ايوب انصاري ﷺ کور کي پاتي شو، او په دي ځمکه باندي دصحابو سره په خپل لاسونو باندي دښختو او د کجورو پتو نه مسجد جوړول شروع کړل، بيا خپل ځان او خواته يي د بيبيانو لپاره داوسيدلو ځاي جوړ کړو. او دتولو نه نژدي کمره دعائشة ﷺ وه،بيا اووه مياشتي بعد دابو ايوب ﷺ د کور نه خپل (مسکن)داوسيدلو ځاي ته منتقل شو.

| | |
|---|---|
| ورورولي | دمسجد دجوړولو نه وروسته رسول الله ﷺ دانصارو او مهاجرينو منځ کي ورورولي قائمه کړه،چه يوبل سره همدردي او حتی چه ميراث کي به هم شريک وي تر دبدرغزا پوري. |
| يهود | کله چه نبي ﷺ مديني ته رالو او يهودو وليدل چه دا حقيقي پيغمبر دي د کوم چه ذکر په تورات کي شوي دي،خو سره ددي نه ډيرو لږو ايمان راوړلو،لکه ددوی عالم عبدالله بن سلام رضي الله عنه. |
| دقبلې بدليدل | دمعراج په واقعه کي دلمونځ د فرض کيدلو نه وروسته به رسول الله ﷺ بيت المقدس طرف ته لمونځ کولو،او دا يي تمنی وه چه قبله دکعبي طرف ته شي،نو اسمان ته به يي کتل او دا به يي تمنی وه،نو الله تعالی وربانديدا ايت نازل کړو﴿ قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا﴾[البقرة:١٤٤]په دويم کال د هجرت کي رسول الله ﷺ قبله دبيت المقدس نه کعبي ته بدله کړه. |
| دجهاد حکم | کله چه رسول الله ﷺ مدينه منوره کي مستقر شو او انصارو مظبوط کړو،نو الله تعالی دا ايت نازل کړو: ﴿ أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾[الحج]،او الله تعالی مومنانو ته دمشرکينو سره د جنګ اجازت وکړو. اودرسول الله ﷺ داولنو غزاګانو نه غزوة الأبواء او بُواطٍ اوالعُشيرة او ځيني وړي سريي وي. |
| دبدر غزا | په دويم کال د هجرت رسول الله ﷺ د٣١٣ کسانو سره دقريشو دقافلي ته د مخي نيولو لپاره اووتلو کومه چه د شام نه راروانه وه،ليکن ابوسفيان لاره بدله کړه.او دي سره مشرکين په تکبر کي راغله شيطان دوکه کړل او د مسلمانانو مقابلي ته راوتل، نو د مومنانو سره دبدر په مقام کي مخامخ شول،او دي غزا ته د يوم الفرقان نوم هم ورکړل شوي دي. کله چه دواړه ډلي مخامخ شوي رسول الله ﷺ خپل رب ته عاجزی وکړه او دعاء يي وکړه نو الله تعالی دمومنانو مدد په ملائکو سره وکړه،چه دمومنانو سره په صف کي جنګيدلي. او الله تعالی فتحه مومنانو له ورکړه،په دي غزا کي دمشرکينو ٧٠ کسان مړه شول، او د مومنانو نه ١۴ کسان صحابه شهيدان شول. |

| | |
|---|---|
| دقينقاع غزا | دهجرت په دريم کال بنوقينقاع د صلحي وعده ماته کړه،نو رسول الله ﷺ پنځلس شپې محاصره کړل بيا درسول الله ﷺ په حکم راوتل، او پريښودل، او دوی ۷۰۰ کسان وو. |
| د احد غزا | او دا غزا دشوال په مياشت کي وه، قريش دبدر غزا کي د مړه شوو مشرکينو د بدل اخستلو لپاره راوتل او تقريبا ۳۰۰۰ کسان وو، مديني ته راغلل، نبي ﷺ داووه سوه صحابه کرامو سره داحد ميدان ته اوتلو اومنافقين ورنه په شا شول.<br>په سهار کي ميدان دمسلمانانو وو، بيا الله تعالی مومنانو باندي امتحان راوستلو او ميدان دکافرو شولو،تر دي چه رسول الله ﷺ ته راورسيدل او د هغه غاښ مبارک مات شو،زخمي شو،په دي ورځ ملائکو هم شرکت کړي وو،او ۷۰ صحابه کرام شهيدان شول،چه په دي کي حمزة بن عبد المُطَّلب اومُصعب بن عميرٍ اوأنس بن النَّضر اوحنظلة هم شامل وو.<br>رسول الله ﷺ او مومنان د غره طرف ته لاړل،او الله د مشرکينود تکليف نه خلاص کړل، داحد ورځ د امتحان او د سختي ورځ وه،الله تعالی پکي مومنان په امتحان کړل،او منافقين ښکاره شو ،او چاته چه د الله خوښه وه دشهادت عزت يي ورکړلو،دغزا نه وروسته رسول الله ﷺ خبر شو چه قريش بيا اراده لري چه مسلمانان ختم کړي، او بيا راووځي،نو سره ددي نه چه مسلمانان تکليف کي وو، خو بياهم وراوتل، کله چه د حمراء الاسد علاقي ته ورسيدل نو قريشو ته خبر ورسيدلو او په شا لاړل. |
| دهجرت څلورم کال | په څلورم کال د هجرت د بئر معونة واقعه وشوه کوم کي چه اويا (۷۰) هغه صحابه کرام چه د قران حافظان وو شهيدان شول، همدارنګه غزوة بنو نضير وشوه کوم چه رسول الله ﷺ محاصره کړي وو تر دي چه الله تعالی يي زړونو کي رعب واچولو راوتل او رسول الله ﷺ دمديني نه ويستل، او ددوی باره کي الله تعالی سورت الحشر نازل کړو. |
| دمريسيع غزا | په پنځم کال رسول الله ﷺ دبني المصطلق غزا ته اوتلو او کامياب راوګرځيدلو، او په لاره کي د تيمم مشروعيت نازل شو،او همدارنګه د افک واقعه منځ ته راله او هغه دا چه منافقينو ام المومنين عائشة الصديقة پاکه بيبي باندي يي تهمت ولګولو، او دا په عائشة ﵂ او رسول الله ﷺ باندی ډيره سخته تمامه شوه تر دي چه الله تعالی سورت النور کي د عائشة ﵂ براءت او پاکوالي نازل کړو. او تهمت لګولو والا باندي ددرو حد جاري شو . |

| | |
|---|---|
| غزوة الأحزاب | په پنځم کال د شوال په میاشت کي دخندق غزا وه، چه دیته د احزاب نوم ورکړل شوي دي، یهودو د قریشو او د نورو متحالفینو سره درسول الله ﷺ او د صحابه کرامو دجنګ لپاره یوځاي شول،نود قریشو نه بني سلیم بني اسد فزاره او اشجع او نور ورسره تقریبا لس زره کسان راټول شو او مدینی ته راغلل.<br>سلمان فارسي ﷺ رسول الله ﷺ ته د خندق ویستلو مشوره ورکړه، چه ددي په وجه به د کافرو د ډلو نه محفوظ شو، نو رسول الله ﷺ ددري زره کسانو سره اووتلو او جبل سلع سره یي ځان قلعه بند کړو،او مخي ته یي خندق ویستلو،بنو قریظة دامن معاهده وکړه لیکن بیا یی وعده ماته کړله،او احزابو سره یوځاي شول، نو رسول الله ﷺ نعیم بن مسعود بنو قریظه ته او احزابو ولیږلو او چل یي ورسره وکړو ددواړو ډلو په منځ کي یي تفرقه پیدا کړه، بیا الله تعالی دخپلو لښکرو نه یو لښکر راولیږلو چه تیزه هوا وه،چه الله تعالی ددي په سبب دکافرو خیمي او دیګونه واړول،او د هغوی په زړونو کي یي رعب واچولو، ا ذلیله لاړل، او بنو قریظه له بیا سعد بن معاذ ﷺ ورلو او فیصله یي وکړه د سزا ورکولو. |
| حدیبیه صلح | په شپږم کال د هجرت رسول الله ﷺ د ۱۴۰۰ څوارلس سوه صحابه کرامو سره د عمري په اراده روان شو، کله چه د حدیبیه مقام ته ورسیدلو،نو قریشو مکي ته دننه کیدلو نه منع کړلو،او بیا یي صلح وشوه په دي شرط چه لس کالو پوري به جنګ نه وي،او دا د مومنانو لپاره فتحه وه،لکه څنګه چه الله تعالی سورت الفتح کي ذکر کړي دي: ﴿انافتحنا لک فتحا مبینا﴾ الفتح].<br>او د صلحي د شرطونونه دا هم وو چه مومنان به راروان کال عمري له راځي، نوبیا په اووم کال د ذوالقعدي په میاشت کي عمرة القضاء وشوه، |
| دخیبر غزا | دحدیبیي نه دراتلو نه شل ورځي بعد رسول الله ﷺ خیبر ته اووتلو چه دمدیني منوري شمال کي واقع دي،او التـه یي یهود محاصره کړل،مسلمانانو ډیر مشقت وکړو په هغي کي او تقریبا شل شپي یي یهود محاصره کړي وو،کله چه یهود پوهه شو چه اوس مره کیږو، نو د صلحي غوښتنه یي وکړه، نو رسول الله ﷺ ورسره صلح وکړه، چه وینه به یي محفوظه وي،اوصرف خپلو کپړو کي به د خیبر نه ووزي . |

**دجعفر راتلل**

رسول الله ﷺ په خيبر کي وو او ابوهريرة ﷺ مديني ته رالو او مسلمان شو،او همدارنګه جعفربن ابي طالب درسول الله ﷺ د تره زوي، او چه څوک ورسره حبشه کي پاتي وو هغوی هم خيبر ته راغلل.او همدارنګه اشعريين ابوموسی او ملګري يي رضوان الله عليهم اجمعين هم راغلل.

**غزوة مؤتة**

په اتم کال د هجرت د موته غزا وشوه، او ددي سبب دا وو چه شرحبيل بن عمرو الغساني درسول الله ﷺ هغه خط وړونکي قتل کړو کوم چه د روم باشاه له يي درسول الله ﷺ پيغام(خط ) وړي وو، نو رسول الله ﷺ ددري زره صحابه کرامو فوج تيار کړو او مشري يي زيدبن حارثة ﷺ له ورکړه او دا يي وفرماييل که زيد بن حارثة څه وشو نو مشري به جعفر بن ابي طالب واخلي او که هغه هم څه وشو نو عبدالله بن رواحة رضي الله عنهم به جنډه واخلي، هرقل (دروم بادشاه)هم سره د خپلو عرب ملګرومقابلي ته راوتلو چه دوه لکه فوج ورسره وو، نو درسو ل الله ﷺ اميران شهيدان شول،بيا خالد بن وليد ﷺ جنډه واخستله او ښه مشري يي وکړه تردي چه مسلمانان يي دالله ددشمنانو نه خلاص کړل.

**دمکي عظيمه فتحه**

په همدي کال بنوبکر چه د قريشو حليف (ملګري) وو په خزاعة باندي چه درسول الله ﷺ حليف(ملګري)وو حمله وکړه، او په دي کي ورسره قريشو پټ مدد وکړو، نو دا خبر رسول الله ﷺ ته ورسيدلو، نود مکي د فتحه کولو اراده يي وکړه، ابوسفيان رالو او رسول الله ﷺ سره يي خبري وکړي ليکن رسول الله ﷺ ورله خبري وانه وريدلي،بيا لاړو ابوبکر او عمر او علي رضوان الله عليهم اجمعين ته يي اوويل چه تاسو درسول الله ﷺ سره خبري وکړی ليکن رسول الله ﷺ يي خبري ونه مٰنلي ، او د الله نه يي دا دعاء وکړه چه الله تعالی زما په وتلو قريش ړانده کړي خبر نه شي، الله تعالی يي دعاء قبوله کړه، او لس زره صحابه کرامو سره دمکی طرف ته روان شو،تر دي چه مکي ته دننه شو.

او د فتحي نه مخکي درسول الله ﷺ تره عباس بن عبدالمطلب هم اسلام راوړو. او دفتحي وخت درسو ل الله ﷺ داقوالو نه دا هم وو چه ويي فرماييل: (څوک چه دابوسفيان کور ته داخل شو په امن کی دي،څوک چه مسجد الحرام ته داخل شو په امن کي دي،او چاچه څان پسي د کور دروازه بنده کړه امن کي دي) نو هغه چاسره يي جنګ وکړو څوک چه جنګ ته راوتل، مګر ډير لږ خلکو سره يي جنګ وکړو چاچه رسول الله ﷺ او مومنانو ته ډير زيات تکليف رسولي وو.کله چه مکی ته داخل شونو داحرام نه بغير يي طواف وکړو،بيا يي د عثمان بن طلحة نه د کعبي چابي واخستله او تو ل بتان يی مات کړل او چابي يي واپس ورکړه،دمکي د فتحي نه وروسته ډير خلک مسلمانان شول،بلکه قبائل ډلي ډلي راغلل او مسلمانان شول.

**دبتانو ماتول**

کله چه الله تعالی خپل نبي له د مکي فتحه په نصيب کړه نو رسول الله ﷺ صحابه کرام ولیږل چه د مکی شاوخوا بتان مات کړي، نوعمرو بن العاص ﷺ يي د سواع ماتولو لپاره وليږلو.سعد بن زيد يي د مناة ماتولو لپاره،اوخالد بن وليد يي د عزی او طفيل ﷺ يي د ذی الکفين او علی ﷺ يي د طي بتانو ماتولو له وليږل.

**دحنين غزا**

کله چه د هوازن قبيلي واوريدل چه مکه فتحه شوي ده نو درسول الله ﷺ مقابلي ته راوتل او ځان سره يی خپل مالونه ښځي ماشومان هرڅه راروان کړل، نو رسول الله ﷺ ددولس زره کسانو سره د هغوي مخي ته اوتلو، مسلمانان د خپل عدد په وجه په تعجب او تکبر کي راغلل، تر دي چه وادي حنين ته راورسيدل، ليکن هوازنو ډيره سختي وکړه، او سخت جنګ يي وکړو تر دي چه دډير يري او رعب دوجي نه درسول الله ﷺ د خوانه خلک لاړل، او رسول الله ﷺ سره لږ خلک دمهاجرينو او اهل بيتونه پاتي شول،بيا الله تعالی مومنان ثابت قدمه کړل اوواپس راغلل درسول الله ﷺ سره شامل شو او الله تعالی يي مدد وکړو او هوازن طائف ته وتختيدل.

بيا د هوازن څوارلس کسان راغلل مسلمانان شول، او درسول الله ﷺ نه يي وغوښتل چه مونږ سره زمونږ سبايا(زنانه قيديانو) کي احسان وکړه نو رسول الله ﷺ وسره احسان وکړو.

**دطائف غزا**

کله چه رسول الله ﷺ د هوازن نه فارغ شو،نو د طائف د غزا اراده يي وکړه، نو الته يي قلعه اتلس ورځي محاصره کړه او بغير دجنګ نه واپس لاړو

**دتبوک غزا**

په نهم کال د تبوک غزا وشوه چه ديته غزوة العسرة هم وايي. او دا سخته ګرمی کي وه، وتل ورته ډير ګران وو،کله چه رسول الله ﷺ دوتلو ارده وکړه نو خلکو له يي د انفاق کولو تشجيع ورکړه، عثمان ﷺ ٣٠٠ اوښان او ورسره چه هر څه وو،او ١٠٠٠ ديناره ورکړه، او بيا ټولو صحابو د خپل استطاعت مطابق انفاق وکړو، او په دي غزا کي ځيني منافقين درسول الله ﷺ نه وروسته شول، او دري صحابه کرام چه دبهترينو صحابو نه وو بغير د عذر نه پاتي شول،چه هغه کعب بن مالكٍ اوهلال بن أميَّة اومرارة بن الرَّبيع رضي الله عنهم وو، کله چه رسول الله ﷺ مديني ته راواپس شو نو هغوي خپل معذرت پيش کړلو، او ددوی په باره الله تعالی دسورت توبي ايتونه نازل کړل. او الله تعالی ددوی صداقت ته په نظر ددوی توبه قبوله کړه،او د منافقينو بدي يي بيان کړه،او په همدي باندي يي سورت توبه اختتام هم وکړو. او دي سورت ته (الفاضحة ) هم وايي ځکه چه منافقين يي رسوا کړل.

| | |
|---|---|
| دتبوک غزا | په دي غزا کي رسول الله ﷺ دايله او اکيدر دومة سره په جزيه باندي صلح وکړه، او همدارنګه اهل جرب او اذرح سره، او خط يي هم وليکلو،او تبوک کي رسول الله ﷺ تقريبا ۱۳ ورځي پاتي شو بيا مديني ته بغير د جنګ نه واپس شو.<br>کله چه مديني ته راغي الله تعالیٰ ورته حکم وکړو چه مسجد ضرار کوم چه منافقينو جوړ کړي وو، وران کړي ، نو هغه يي وران کړو، او دا اخري غزا وه کوم کي چه يي خپله پکي شرکت کړي وو. |
| وفدونه | دتبوک د غزانه وروسته د ثقيف قبيلي اسلام راوړلو،او نهم کال د وفدونو کال وو،نو قبائل ټول اکثره ډلی ډلی راتلل او اسلام کي داخليدل،چه ددوئ نه د بنی تميم وفد وو،چه مشر يي عطارد بن حاجب التميمي وو،او د طی وفد وو چه مشر يي زيد الخيل وو، او د عبدالقيس وفد چه مشر يي جارود العبدي وو،او د بني حنيفة وفد وو چه دي کي مسيلمة الكذاب هم وو کوم چه وروسته يي بيا ددروغو د نبوت دعوه وکړه. |
| دابوبکر ﷺ حج | په نهم کال رسول الله ﷺ ابوبکر ﷺ د حج لپاره وليږلو او مشري يي ورکړه نو خلکو ورسره حج وکړو،او علی ﷺ يي وليږلو چه خلکو ته د سورت توبي اولنی حصه اوايي، او خلکو ته يي دا اعلان وکړو چه نن نه بعد به کوم مشرک حج نه کوي،او نه به بربنډ طواف کوي،لکه د جاهليت په دور کي چه کيدل. |
| حجّة الوداع(اخري حج) | په لسم کال د هجرت رسول الله ﷺ اخري حج وکړو چه حجة الوداع ورته ويلي شي،اود مختلفو قبايلو او ښارونو نه مسلمانان ورسره يوځاي حج وکړو، تقريبا يولک کسان وو.رسول الله ﷺ د حج مناسک خلکو ته بيان کړل ورويي ښودل،او د عرفي دورځي خطبه يي وکړه، او د الله تعالی دا ايت يي تلاوت کړو. ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾[المائدة:۳]، نو دا پيغام يی خلکو له ورکړو چه دين مکمل شو،او قران او سنت باندي د عمل کولو وصيت يی وکړو،او ويني،مالونه عزتونه په يو بل باندي حرامي وګرځولي، او دا اخري خطبه وه درسول الله ﷺ . |
| داسامة لیږل | په يوولسم کال دصفر مياشت کی دروم د جنګ لپاره لشکر تيار کړي شو،او اسامة بن زيد يي مشر کړو،لاړو او د جرف سره يي معسکر جوړ کړو،چه درسول الله ﷺ د مرض خبر ورته ورسيدلو. |

## دغزاګانو خلاصه

دغزاګانو او تولګیو او سرایا خلاصه

درسول الله ﷺ غزاګاني سرايا او ټولي ليږل ټول د هجرت نه وروسته وو،چه لس کاله مدت يې وو. هر چه واړه ټولګي او سرايا وي تقريبا شپيته پوري دي،او غزا ګاني ۲۷ غزاګاني دي،رسول الله ﷺ په نهه غزاګانو کي خپله شرکت کړي دي چه دادي: بَدْرٌ، أُحُدٌ، خَنْدَقُ، قُرَيْظَةُ، الْمُصْطَلِقُ، خَيْبَرُ، الْفَتْحُ، حُنَيْنٌ، طَّائِفُ، او په ځينو کي د قران ايتونه هم نازل شوي دي چه دادي:

په غزا ګانوو کې د قران نازلېدل

**په غزوة بدركي سورت الأنفال نازل شو:** چه دي ته سورة بدر هم وايي.

**په غـزوة احد کی د سـورت آل عـمـران اخري ايتونه نـازل شـو**.: ددي ايت نـه (واذ غدوت من اهلک تبوئ المؤمنين مقاعد للقتال) تر دسورت اخر نه لړ مخکي پوري.

**په غزوه خندق او بني قريظه او خيبر کي:** دسورت احزاب ايتونه نازل شو.

**غزوه بني نضير کي:** سورت الحشر نازل شو.

**غزوه حديبية او خيبر کي :** سورت الفتح نازل شو او د فتحي طرف ته پکي اشاره وه، او ددي فتحي سورت النصر کي هم په ښکاره ډول ذکروشو.

**په غزوه تبوک کي :**دسورت التوبي ايتونه نازل شو.

په يوه غزا کي زخمي شوي وو چه د احد غزا وه. دبدر او احد او حنين غزا کي ملائکي د نصرت لپاره راغلي وي، او د خندق په ورځ هم ملائکي راغلي وي او مشرکينو باندي يي زلزله راوستله او شکست يي وليدلو،او د هغوی په مخونو باندي يي خاوري وشيندلي، دبدر او حنين غزا کي يي فتح په نصيب وه،دطائف په غزا کي يي منجنيق باندي جنګ کړي وي، او د خندق په ذريعه يي ځان هم محفوظ کړي وو، چه دا مشوره سلمان فارسي ؓ ورکړي وه.

## درسول الله ﷺ مرض او وفات

درسول الله ﷺ مرض او وفات

بیا الله تعالی ورله په دنیا کي دپاتي کیدلو او د الله طرف ته دتللو اختیار ورکړو،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله ملاقات او جنت اختیار کړلو.ددي نه وروسته شدید مریض شو، او د خپلو بیبیانو نه یي اجازت واخستلو چه مرض به د عائشة ﷺ په حجره کي تیر کړي هغوی اجازت ورکړو، کله چه دلمونز کولو نه قاصر شو په مسجد کي ابوبکر ﷺ ته یي حکم وکړو چه خلکو له امامتي وکړي، او دا دي خبري ته اشاره وه چه درسول الله ﷺ نه وروسته هغه د خلافت ډیر حقدار دي.

په یوولسم کال دهجرت دربیع الأول د میاشتي دولسم تاریخ د (پیر)دوشنبي په ورځ مسجد ته راووتلو پرده یي اوچته کړله تر دي چه خلکو ولیدلو، او هغوی ته یي اشاره وکړه چه لمونځ پوره کړی، او بیا د چاشت (ضحی) په وخت کي وفات شو، او د هغه وفات د مسلمانانو لپاره ډیر شدید غم وو، او لوي مصیبت دي.

بیا خلک په ابوبکر ﷺ باندی راټول شو او بیعت یي ورسره وکړو،او خلیفه شو ،او د ابوبکر رضي الله عنه اسلام کي مخکي والي اودرسو ل الله علیه وسلم نه بعد په ټول امت باندي فضیلت لرلو ته په نطر هیڅ څوک هم د هغه د بیعت نه وروسته نه شو.

بیا رسول الله ﷺ له غسل ورکړي شو او په دري سپینو کپړو کي کفن ورکړل شو، بیا چه په کوم ځاي کي وفات شوي وو چه د عائشة ﷺ حجره(کمره) وه دفن کړي شو،او دا دالله تعالی اصول دي دانبیاو باره کي هغه ځاي کي دفن کیږي چرته چه وفات شي، دالله د طرف نه دي وربانديي سلام او برکات وي،مونږ ددي ګواهي ورکوو چه امانت یي پوره طریقي سره اداء کړو،امت ته یي نصیحت وکړو، او دالله په لاره کي یي حق جهاد کړیدي، الله دي ورله ددي ښه بدله ورکړي .

والحمد لله ربّ العالمین.

خاتمةٌ:

حسان بن ثابت درسول الله ﷺ شاعر فرمایي:

يَـــا رَبِّ! فَاجْمَعْنَــــا مَعًـــا وَنَبِيَّنَـــا ... فِــي جَنَّـــةٍ تُثْنِــي عُيُــونَ الْحُسَّـــدِ

فِــي جَنَّـــةِ الْفِـــرْدَوْسِ وَاكْتُبْهَـــا لَنَـــا ... يَـــا ذَا الْجَـــلَالِ وَذَا الْعُـــلَا وَالسُّـــؤْدَدِ

صَـــلَّى الْإِلَـــهُ وَمَـــنْ يَحُـــفُّ بِعَرْشِـــهِ ... وَالطَّيِّبُـــونَ عَلَـــى الْمُبَـــارَكِ أَحْمَـــدِ

# دريم امتحان

| سوال: | صحيح | خطأ |
|---|---|---|
| رسول الله ﷺ كډي بيزي ساتلي ددي وجي نه صبر او په كمزورو رحم كول پكي وو | ☐ | ☐ |
| كله چه رسول الله ﷺ د خلوېښت كالو شو نو دنبوت نور وربانديدجمعي په نازل شو. | ☐ | ☐ |
| قريشو تكليفونه ډير زيات كړل،رسول الله ﷺ او د هغه اهل بيت يي دري كاله په شعب بن ابي طالب كي بند كړل،كله چه د غار نه اوتلو نو عمر يي ۴۹ كاله وو. | ☐ | ☐ |

- مكه كي پيدا شوي وو: ☐ عام الفيل كي ☐ دهجرت نه ۵۳ كاله مخكي ☐ داټول ذكر شوي.
- دوجي ابتداء: ☐ يواځي والي يي خوښ شو ☐ نيک خوبونه ☐داټول
- دوجي مرتبي : ☐ پنځه دي ☐ اووه دي ☐ دري دي.
- درسول الله ﷺ ددعوت مرتبي: ☐ دوه ☐ دري ☐ پنځه
- بيا رسول الله ﷺ روحا او جسدا مسجد اقصى ته بوتلل شو،بيا د هغه ځاي نه داسمانونو نه بره وخيژول شوالله تعالى ته.او الته ورته الله تعالى مخاطب شو او پنځه وخته لمونځونه يي وربانديفرض كړل: ☐ جسدا ☐ روحا ☐ جسدا او روحا دواړه
- په اسلام كي اولني مسجد: ☐ مسجد الحرام دي ☐ مسجدالنَّبويُّ ☐ مسجدالأقصى ☐مسجد قباء
- دقبلي ګرځيدل وو : ☐ په مكه كي دهجرت نه مخكي ☐ په دويم كال د هجرت ☐ په دريم كال دهجرت
- غزوة بدر درمضان مياشت كي : ☐ په دويم كال دهجرت كي وه ☐ په دريم كال د هجرت

| په رسول الله صلى الله عليه وسلم اول ايمان راوړونكي | عليُّ بن أبي طالبٍ | بلال بن رباحٍ | زيد بن حارثة | أبو بكرٍ الصَّدِّيق |
|---|---|---|---|---|
| دسړو نه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دماشومانونه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دخادمانونه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دغلامانو نه: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| درسول الله صلى الله عليه وسلم كفالت: | أبوطالبِ | عبد المُطَّلب | اته كاله وو | عبد الله بن عبد المُطَّلب | اووه كاله |
|---|---|---|---|---|---|
| دمور نه بعد يې نيكه كفالت وكړو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| بيا وفات شو او عمر يې: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| بيايي تره كفالت وكړو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| دمور په خيټه وو چه پلار يې وفات شو: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| موريې وفات شوه او نه يې ووپوره كړي: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

| غزاګانې او ټولګې: | لس كالو پوري | شپيته | اووه ويشت | نهه غزاګانو كې | غزاكې |
|---|---|---|---|---|---|
| ټول ټولګې او سرايا يې دهجرت نه بعد وى : | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| سرايا او ټولګې يې تقريبا: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| غزاګانې تقريبا: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| خپله جنګيدلې دې په: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |
| اوزخمې شوې دې په: | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ | ☐ |

# فهرس

| | |
|---|---|
| مقدمه | ٣ |
| درسول الله ﷺ صفات | ٥ |
| اولني امتحان | ١٣ |
| دنبي ﷺ طريقي | ١٥ |
| دويم امتحان | ٢٠ |
| درسول الله ﷺ خصائص | ٢٣ |
| درسول الله ﷺ خپلوان او بيبياني | ٢٦ |
| دنبوت نه مخكي درسول الله ﷺ سيرت | ٣١ |
| دوحي ابتداء | ٣٣ |
| مكي دور | ٣٦ |
| مدني دور | ٣٩ |
| دغزاګانو خلاصه | ٤٦ |
| درسو ل الله ﷺ مرض او وفات | ٤٧ |
| دريم امتحان | ٤٨ |
| فهرس | ٥٠ |